# د افغانستان جمهوریت

## د عدلیې وزارت

# رسمي جریده

شماره پانزدهم ـ ۱۵ عقرب
۱۳۶۹
نمبر مسلسل ۷۲۸

قانون اساسی جمهوری
افغانستان

۹ قوس ۱۳۶۶

(با رعایت تعدیل مصوب
لویه جرگه جوزای ۱۳۶۹)

مدیر مسئول: شاه جهان بیگزاد
معاون: نور علم
مهتمم: ایام الدین
تیلفون: ۲۶۲۵۱

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

دافغانستان دجمهوریت د جمهور
رئیس فرمان
دکابل ښار
لومړی گڼه
د۱۳۶۹کال دقوس نهمه نیټه
دافغانستان دجمهوریت
داساسی قانون د توشیح او
اعلام په باب

دقوس دمیاشتی داتمی او نهمی نیټی تاریخی لویه جرگه چی دکابل په ښار کی جوړه شوه د افغانستان د جمهوریت اساسی قانون یی په دیارلسو فصلونو او یوسلو نهه خلویښتو مادو کی د تر ټولو مهمی ملی وثیقی په توگه تصویب کړ.

دهغه واک سره سم چی اساسی قانون راته راسپارلی دی، د ۱۰ج اساسی قانون چی دتصویب له نیټی څخه نافذ شوی دی، دسولی اوهوساینی دتامین، دملی روغی جوړی دپوره تحقق، دخلکو دنیکمرغی اودگران افغانستان دپرمختگ په خاطر توشیح اواعلاموم.

دوکتور نجیب الله
دافغانستان جمهور رئیس

فرمان رئیس جمهور جمهوری
افغانستان
شهر کابل
شماره (۱)
مورخ ۹ر۹ر ۱۳۶۹
درباره توشیح واعلام قانون
اساسی جمهوری افغانستان

لویه جرگه تاریخی ۸و۹ماه قوس که درشهر کابل دایر گردید قانون اساسی جمهوری افغانستان را بداخل سیزده فصل ویکصدو چهل ونه ماده بمثابه مهمترین وثیقه ملی به تصویب رسانید.

مطابق به صلاحیتیکه قانون اساسی برایم تفویض نموده قانون اساسی ج.۱۰ را که ازه تاریخ تصویب نافذ گردیده بخاطر تامین صلح و آرامش، تحقق کامل مشی مصالحه ملی، سعادت مردم وترقی افغانستان عزیز توشیح واعلام میدارم.

دوکتور نجیب الله
رئیس جمهور افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

## دافغانستان جمهوریت
## دجمهور رئیس فرمان

گڼه (٤٦٤)

نیټه ٨ر٣ر١٣٦٩

داساسي قانون دتعدیل د توشیح او اعلام په باره کې

داساسي قانون دیوسلو نهه خلویښتمې مادې د دویمې فقرې دحکم له مخې پهاساسي قانون کې تعدیلات چې د یارلس سوونهه شپیتم کال دجوزا د میاشتې په اوومه او اتمه نیټه دلویې جرگې د تصویب له تاریخ څخه نافذ دي د افغانستان دخلکو دتاریخي ارمان دتحقق په مقصد د افغانانو په خاوره کې دسولې اوآرامۍ دتامین اودملي روغې جوړې دتګلارې دبشپړ تحقق اودخلکو نیکمرغۍ او د افغانستان دترقۍ په خاطر توشیح اواعلاموم.

نجیب الله

دافغانستان جمهور رئیس

## فرمان رئیس جمهور جمهوری افغانستان

شماره (٤٦٤).

مورخ ٨ر٣ر ١٣٦٩

درباره توشیح و اعلام تعدیل قانون اساسی

به تاسی از حکم فقره دوم ماده یکصدوچهل‌ونهم قانون اساسی، تعدیلات در قانون اساسی را که از تاریخ تصویب لویه جرگه مورخ هفت و هشت ماه جوزای سال سیزده صدو شصت و نه، نافذ میباشد، به منظور تحقق آرمان تاریخی مردم افغانستان بخاطر تامین صلح وآرامش درسرزمین افغانستان، وتحقق کامل مشی مصالحه ملی ودر جهت سعادت مردم و ترقی افغانستان عزیز، توشیح واعلام میدارم.

نجیب الله

رئیس جمهور افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

## فهرست

مقدمه
لومړی فصل
دسیاسی نظام اساسونه
دویم فصل
دټولنیز ـ اقتصادی نظام اساسونه
دریم فصل
داتباعو تابعیت ، اساسی حقوق ، آزادی اومکلفیتونه
څلورم فصل
لویه جرگه
پنځم فصل
جمهور رئیس
شپږم فصل
ملی شورا
اووم فصل
د وزیرانو شورا
اتم فصل
قضاء
نهم فصل
خارنوالی
لسم فصل
د اساسی قانون شورا
یوولسم فصل
اداره
دولسم فصل
بهرنی سیاست
دیارلسم فصل
متفرقه حکمونه

## فهرست

مقد مه
فصل اول اساسات نظام سیاسی
فصل دوم اساسات نظام اجتماعی ـ اقتصادی
فصل سوم ، تابعیت، حقوق آزادیها و مکلفیتهای اساسی اتباع .
فصل چارم لویه جر گه
فصل پنجم رئیس جمهور
فصل ششم شورای ملی
فصل هفتم شورای وزیران
فصل هشتم قضاء
فصل نهم خارنوالی
فصل دهم شورای قا نون اساسی
فصل یازدهم اداره
فصل دوازد هم سیاست خارجی
فصل سیزدهم : احکام متفرقه

# رسمي جريده

## بسم الله الرحمن الر حيم

زمونږ د گرا ن هيواد افغا
نستان وياړلی تاريخ دخپلواکی
زمکنی بشپړتيا، ملی حاکميت
ملی يووالی ، د مو کراسی او
ټولنيزی تر قی په خاطر زمونږ
د زړه ورو خلکو له اتلولـــو
مبارزو څخه ډک دی .

په اوسنۍ پړاو کی دافغا
نستان جمهور ی دو لت دملی،
سيا سی او هيواد پالو ځوا ــ
کونو پر ملاتړ متکی د ملـــی
روغی جوړی سياست په فعاله
توگه پرمخ بيايی.

له همدغه ا مله د هغـــو
تاريخی بدلونونو په پام کـــی
نيولو سره چی زمونږ پـــــه
هيواد او معاصره نړی کـــی
را منځته شو يد ی ،داسلام د
سپيځلی دين داساساتو پـــه
پيروی ، د هيواددتاريـــخ او
فرهنگ پربنا د افغـــانـــی
غوره دودونو او شعايروپه پام
کی نيولو سره ،دمشروطيت د
غورځنگ ارزښتناکو ميراثونو
ته په درناوی اود ملگروملتونو
د منشور او دبشر د حقوقود
نړيوالی اعلاميی سره په سمون
کي:

## بسم الله الرحمن الر حيم

تا ريخ پر ا فتخار و طن
محبو ب ما افغا نستا ن مشحون
از مبا رزا ت قهر ما نا نه
مرد م دلير رما به خا طـــر
استقلا ل، تما ميت ار ضی
حا کميت ملی، و حد ت ملی
دمو کرا سی وتر قی اجتما عی
می با شد .

در مر حله کنو نی ،دو لت
جمهو ر ی افغا نستا ن متکی
بر حما يت نيرو ها ی ملـــی
سياسی ووطن دو ســـــت
سيا ست مصا لحه ملی ر ا
فعا لا نه به پيش می برد.

بنا بر ين، با نظر دا شت
تحـولات تاريخيی کـــه د ر
ميهن ما و جها ن معا صـــر
رو نما گرد يد ه است ،بــا
پيروی از اساسات دين مقد س
اسلام بارعايت سنن وشعا ــ
ير پسند يد ه افغا نی، مبتنی
بر حقا يق تا ريخ و فر هنگ
کشور، با احترا م به مواريث
ارز نده نهضت مشرو طيت
ودر مطا بقت با منشور مـــلل
متحد واعلا ميه جها نی حقو ق
بشر ، به منظور :

# رسمی جرگه

- دخپلواکی دساتنی، د
زمکنی بشپړتیا څخه د دفاع
او د ملی حاکمیت د ټینګښت
- سراسری سولی ته
درسیدو او دملی یو والی
د زور تیا .
- د عدالت او د موکراسی
د تامین .
- دبیا ودانولو او متوازنی
اقتصادی، ټولنیزی ودی اودخلکو
د ژوندانه دسطحی دلوړولو.
- په بین المللی ډگر کی د
هیواد دنقش او اعتبار دزیات
والی .
- دافغانستان دد ایمی
بیطرفی دحقوقی دریځ دتثبیت
او د هغه دنه پوځی کیدو
دپاره د غوره شرایطودرامنځته
کیدو په منظور .

مونږ دیوزرو دری سوه نهه شپیتم
کال دجوزادمیاشتی داوومی او
اتمی نیټی په لویه جرگه کی
دافغانستان د خلکو استازیو،
د ۱۳۶۶ کال دقوس دمیاشتی
نهمی نیټی دلویی جرگی له
خوا تصویب شوی اساسی
قانون چی دیارلس فصلونه او
یوسلونهه څلویښت مادی
درلودی، د ډیری لوړی ملی

- حفظ استقلال، دفاع از
تمامیت ارضی و تحکیم
حاکمیت ملی.
- دستیابی به صلح سراسری
وتعمیق وحدت ملی.
- تامین عدالت ودموکراسی
- اعمار مجدد ورشد متوازن
اقتصادی، اجتماعی وارتقای سطح
زندگی مردم .
- افزایش نقش و اعتبار کشور
در عرصه بین المللی
- ایجاد شرایط مساعد به‌خاطر
تثبیت موقف حقوقی و بی
طرفی دایمی افغانستان و
غیر نظامی شدن آن .

ما نماینده گان مردم
افغانستان در لویه جرگه
مورخ هفت و هشت ماه جوزای
سال هزارو سه صدو شصت
ونه ، قانون اساسی مصوب
لویه جرگه مورخ نهم
ماه قوس سال هزارو سه صدو
شصت وشش را که دارای
سیزده فصل ویک‌صدوچهل ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وثیقی په توګه په لاندی ډول تعدیل کړ :

## لومړی فصل

## دسیاسی نظام اساسونه

### لومړی ماده:

د افغانستان جمهوریت خپلواك ، واحد ، نه تجزیه کیدونکی اواسلامیدولت دیاو پرخپل ټول قلمرو باندی دحاکمیت لرونکی دی .

د افغانستان په جمهوریت کی ملی حاکمیت په خلکوپوری اړه لری . خلك ملی حاکمیت دلویی جرگی اوملی شورا په واسطه عملی کوی .

### دویمه ماده :

د افغانستان دین د اسلام سپیڅلی دین دی .

د افغانستان په جمهوریت کی هیڅ قانون نه‌شی کولای چی داسلام دسپیڅلی دین داساسونو او ددغه اساسی قانون د نورو مندرجو ارزښتونو مناقض وی .

### دریمه ماده :

د افغانستان جمهوریت ناپییلی هیواددی، په پوځی ډلو ټپلو کی نه شاملیږی اوپه خپل قلمروکی د بهرنیو

**ماده بود ، به مثابه عالیترین وثیقه ملی ، ذیلاتعدیل نمودیم.**

## فصل اول

## اساسات نظام سیاسی

### مادهٔ اول:

جمهوری افغانستان دولت مستقل ، واحد ، غیر قابل تجزیه واسلامی بوده ، بر تمام قلمرو خود دارای حاکمیت می باشد .

حاکمیت ملی در جمهوری افغانستان بمردم تعلق دارد .

مردم حاکمیت ملی راتوسط لویه جرگه و شورای ملی اعمال میکنند .

### ماده دوم:

دین افغانستان دین مقدس اسلام است .

در جمهوری افغانستان هیچ قانون نمی تواند مناقض اساسات دین مقدس اسلام ودیگر ارزشهای مندرج این قانون اساسی باشد .

### ماده سوم :

جمهوری افغانستان کشور غیر منسلك بوده درپیمانهای نظامی شامل نمی شود و تاسیس پایگاه های نظامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځی اډو جوړیدو ته اجازه نه ورکوی .

**خلورمه ماده :**

له خپلواکی ، ملی حاکمیت او زمکنی بشپړتیا څخه دفاع د دولت د اساسی دندو له جملی څخه ده.

دولت د هیواد امنیت او دفاعی قابلیت تامینوی او وسله وال پوځ سمبالوی .

**پنځمه ماده :**

د سیاسی گوندونو تعدد دافغانستان جمهوریت د سیاسی سیستم بنسټ دی.

دافغانستان په جمهوریت کی سیاسی گوندونه په دی شرط چی مرامنامه ،اساسنامه او فعالیت یی دهیواد داساسی قانون او قوانینو مغایرنه وی ، جوړیدلی شی

دسیاسی گوند تشکیلات او مالی منابع نشی کیدلای چی غیر علنی وی .

هغه گوند چی د قانون د حکمونو سره سم جوړ یږی، له قانونی مجوزه پرته ړنگیدلای نه شی .

قاضیان او څارنوالان نه شی کولای چی ددندی د

خارجی رادر قلمرو خود اجازه نمی دهد.

**ماده چهارم :**

دفاع از استقلال ، حاکمیت ملی وتمامیت ارضی از جمله وظایف اساسی دولت است.

دولت امنیت وقابلیت دفاعی کشور را تامین وقوای مسلح راتجهیز می نماید .

**مادۀ پنجم:**

تعدد احزاب سیاسی اساس سیستم سیاسی جمهوری افغانستان میباشد.

در جمهوری افغانستان احزاب سیاسی مشروط براین که مرامنامه ، اساسنامه و فعالیت آنها مغایر احکام قانون اساسی و قوانین کشور نباشد تشکیل شده می توانند .

تشکیلات و منابع مالی حزب سیاسی غیر علنی بوده نمیتواند .

حزبی که مطابق احکام قانون تشکیل میشود، بدون مجوز قانونی منحل شده نمیتواند .

قضات وخارنوالان نمی توانند در مدت تصدی وظیفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصدی په موده کی دسیاسی گوند غړیتوب و لری .

**شپږمه ماده:**

دغه ماده لغوه شوه .

**اوو مه ماده :**

دافغانستا ن په جمهوریت کی د ټولنیزو ساز مانونــو جوړیــدل د قانــون سره سم مجاز دی .

**اتمه ماده :**

د هیواد دملــی ژبو لــه جملی شخه پښتو اودری رسمی ژبی دی .

**نهمه ماده :**

دافغانستان جمهور یــت دولتی نښان دغنمو دوږو په مینځ کی پر زرغو ن متــن باندی درا ختو نکی لمر ، د محراب او منبر د تصویر او ددری رنگه توری ، سری ا و زرغونی پټی لرونکی دی .

**لسمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت دولتی بیرغ دری رنگــه لری چی دتورو ، سرو او زرغونو ټوټوپه بڼه له پورته نه‌ښکته ته‌په افقی توگــه په بــرابــره اندازه واقع شوی دی.

دبیرغ د دواړو مخــونــو دپورتنی برخی په ربــع کی د

عضویت حز ب سیا سی را داشته با شند .

**ماده ششم**

این ماده لغو گردید .

**مادۀ هفتم:**

تشکیل ساز ما نــها ی اجتما عی در جمهو ری افغا‌نستا ن طبق قا نو ن مجــاز است .

**ماده هشتم :**

ازجمله زبانهای ملی کشور پشتو ودری زبانهای رسمی میباشد .

**مادۀ نهم:**

نشا ن دو لتی جمهــو ر ی افغا نستا ن دا را ی تصو یر آفتا ب در حا لطلو ع،محراب ومنبر در متن سبز محــاط با خوشه گندم و فیته دا رای سه رنگ سیا ه، ســر خ و سبز می با شد .

**ماده دهم:**

بیرق دولتی جمهــوری افغانستان دارای‌سه رنگ میباشد که به شکل قطعات سیاه، سرخ‌وسبز از بالا به پایین به صورت افقی بــه اندازه مساوی واقع شــده است .

در ربع قسمت بالایی هردو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دلرګي خواته ، دافغانستان
دجمهوريت دولتـــي نښان ته
ځاى ورکړ شوى دى.
دبيرغ اوږدوالى د هغــــه
دسور پهنسبت دوهبرابره دى.

**يوولسمه ماده :**

د افغانستان د جمهوريـــت
پايتخت دکابل ښار دى.

**دوولسمه ماده :**

دغه ماده لغوه شوه .

**دويم فصل**

**دټولنيز ،اقتصادى**
**نظام اساسونه**

**ديار لسمه ماده :**

د افغانستان جمهوريـــت
کثيرالمليت هيواد دى.
دولت دسياسى، اقتصادى،
ټولنيزى او فرهنګـــى برابرى
اوله ټولنيـــــز ، اقتصادى او
فرهنګى پلـــوه د وروستــــــه
پاتو سيمو د ګـــړندى ودى او
پـــــرمختـــګ د تـــأمين پــــه
منظور د هيواد د ټـــو لـــو
مليتونو ، قومونو او قبايلـــو
ترمينځ د تفاهم ، دوستى او
همکارى د هر اړخيـــزى ودى
سياست تعقيبوى.
دو لت په تدريج سرهد
ملى ځانګـړتياوو پربنسټ د

روى بيرق، بهطرف چو به
آن، نشان دولتى جمهور ى
افغا نستان قرار دارد .
طـول بيرق نسبت به عرض
آن دو چند ميبا شد .

**ماده يازد هم :**

پايتخت جمهورىافغانستان
شهر کابل است .

**ماده دوازدهم:**

اين ماده لغو گرديد .

**فصل دوم**

**اساسات نظام اجتماعى**
**اقتصادى**

**ماده سيزدهم :**

جمهورى افغا نستانکشور
کثير المليت است .
دولت سياست رشد همه
جانبه تفاهم ، دوستــــــى و
همکارى همه مليتها، اقوام و
قبايل کشور رابه منظـور
تأمين برا برى سيا ســـى
اقتصادى ، اجتماعى ،فرهنگى
رشد وانکشاف سريعترمناطق
عقب مانده از لحاظ اجتماعى
اقتصا دى و فر هنگـــى تعقيب
مى‌کند .
دولت زمينه ايجاد واحـد
هاى ادارى رابر مبنـــــاى

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

اداري واحدونو د جوړولو زمينه برابروي.

**شوارلسمه ماده :**

دولت د خلکو د فرهنگ ، ژبي او ادبياتو دودي په منظور لازم تدبيرونه نيسي د ټولو مليتونو قومونو او قبايلو د فرهنگ دودونو، ژبي ، ادبياتو او فولکلور غوره ميراث ساتي اوپراختيا ورکوي.

**پنځلسمه ماده :**

د افغانستان په جمهوريت کي کورني د ټولني اساسي رکن جوړوي.

دولت دمور او ماشوم دروغتيادساتني او دماشومانو دروزني دپاره لازم تدبيرونه نيسي .

**شپاړسمه ماده :**

دولت ځوان نسل ته دايمي پاملرنه کوي، د هغوی دښوونې او روزنې ، د کار ، تفريح، استراحت او د معنوی او جسمي روزنې د تامين لازم شرايط برابروي او د نويو ځوانانو او ځوانانو د استعداد دودی په لاره کي مرسته کوي.

خصو صيات ملی به تدريج مهيا می سازد .

**ماده چهار دهم :**

دولت به منظور رشد فرهنگ ، زبان وادبيات مردم تدابير لازم اتخاذ کرده‌ميراث شايسته فر هنگ ، رسوم، زبان، ادبيات و فلکلور تمام مليت ها، اقوام و قبايل را حفظ نموده ، انکشاف می دهد.

**ماده پانزدهم :**

درجمهوری افغا نستان خانواده رکن اساسی جا معه راتشکيل ميد هد .

دولت به منظور تامين صحت طفل وما در و تربيه اطفال تدابير لازم اتخاذ می نمايد .

**ماده شانزد هم :**

دولت از نسل جوا ن مواظبت دايمی نموده،شرايط لازم تعليم و تر بيه ، تا مين کار، تفريح ، استرا حت پرورش معنوی و جسمی آنها را فراهم آورده در جهت رشد استعداد نو جوا نا ن وجوانان مسا عدت می کند .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جرګه

**اووه لسمه ماده :**

دولت داستوګنی د دولتی او کوپراتیفی کورونو دجوړولو په مقصد دودانولو چارو ته پراختیا ورکوی او دشخصی کورونو د جوړولو په کار کی مرسته کوی.

**اتلسمه ماده :**

دولت داسی اقتصادی سیاست چی هدف یی د بیرته پاتیوالی د لیری کولو، دخلکو د ژوندانه د سطحی د لوړتیا او د ټولنی د ټولنیز ـ اقتصادی جوړښت دبشپړتیا په خاطر د هیواد دټولو منابعو تنظیمول اوپه کاراچول دی ، عملی کوی او په دغه مقصدد ټولنیزی او اقتصادی پرمختیا پلانونه تنظیموی اوتطبیقوی.

**نولسمه ماده :**

د افغانستا ن په جمهوریت کی ملکیت ددو لتی ، مختلط کوپراتیفی ،اوقافو ، خصوصی شخصی او دسیاسی او ټولنیزو ساز مانونو د ملکیت په بڼو شته دی .

ملکیت له تعرض څخه مصئون دی .

**دولت** د قانونی ملکیت د **ټولو ډولونو حمایت کوی .**

**ماده هفدهم :**

دولت به منظور اعمار منازل مسکونی دولتی و کوپراتیفی امور ساختما نی راتو سعه داده، در امر سا ختما نمنازل شخصی مساعدت می‌کند .

**ماده هژدهم :**

دولت سیاست اقتصادی را که هدف آن بسیج وبه کار بردن تمام منابع کشور به خاطر رفع عقب مانده گی ، ارتقای سطح زنده گی مردم، تکامل سا ختار اجتماعی ـ اقتصادی جامعه میباشد ، عملی می نماید وبه این منظور پلان های انکشاف اقتصادی و اجتماعی را تنظیم و تطبیق می کند .

**ماده نزدهم :**

**ملکیت در جمهوری افغانستان به اشکال دو لتی ، مختلط** کوپراتیفی ، او قاف، خصو صی، شخصی و ملکیت ساز**ما نهای سیا سی و اجتما** عی وجود دا رد.

**ملکیت از تعر ض مصون است .**

دو لت از تمام انواع ملکیت قا نو نی حما یت می کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زرینی جزیده

**شلمه ماده :**

دافغانستا ن په جمهوریت کی تر ز مکی لاندی منابـع، ځنګلونه څر ځایونه ،کانو نـه، دانرژی اساسی زیر مـی ، تاریخی آبدات ، درادیـــــو- تلویزیون تاسیسا ت ، مخا- براتی تاسیسا ت ، ستربندونه **او موا صلاتی کر ښی‌دد ولت ملکیت دی .**

له ځنګلونو،څر ځا یو نو، دانرژی له زیر مو او کانونو **څخه** داستفادی‌اودمخابرا تـی وسایلو درانیو لو او خرڅلاو په غرض د خصوصی برخـی یانګه اچول د قانون سره سم مجاز دی .

دافغانستا ن په جمهوریت کی ددولتی بانکونو ، بیمی او هوایی ترانسپورت تر څنګـه د مختلطو سهامی بانکونـو ، بیمی او هوایی ترانسپـورت اود خصوصی اومختلط زمکنی ترانسپورت جوړید ل د قانون سره سم مجاز دی .

دافغانستا ن په جمهوریت کی دبهرنیو بانکونو او دبیمی د موسساتو د نماینده ګیـــو فعالیت د قانون سـره سـم مجاز دی .

**مادهٔ بیستم:**

**در جمهوری افغا نستان منا بع زیـــــر زمینی ، جنگلـــها**

چرا گا ه ها معاد ن، منا بـع اسا سی، انر ژ ی آبـــدا ت تا ریخی تا سیسا ت راد یو تلویزیون ، تا سیسات مخا- برا تی بند ها ی بز ر گ بنا در و خطو ط موا صلا تی از جمله ملکیت ها ی دو لت می با شند.

سر ما یه گذا ر ی بخش خصو صی جهـت استفاده از جنگلها ، چرا گاه ها ، منابع انرژی ، معادن وخریدوفروش و سا یل مخـا بـــرا تـی، طبق قا نو ن مجاز است .

در جمهو ر ی افغا نستا ن در کنا ر با نکها بیمه و ترا- نسپور ت هوا ئی‌دو لتی،ایجاد با نکها ی سها می ،بیمه و ترا نسپو ر ت هوا ئی مختلط و ترانسپورت‌زمینی خصوصی ومختلط طبق‌قانون مجازاست.

در جمهو ری افغا نستان فعا لیت **نما** یند ه گی با نکها و مو سسا ت بیمه خا رجـی **طبق قانون مجاز است .**

# رسمی جریده

**یوویشتمه ماده :**

دولت د کوپراتیفونو دپیا وړتیا او پراختیا په کار کی مرسته کوی او په هغوکی دخلکو د خپلی خوښی بر خه اخیستنه هڅوی.

**دوه ویشتمه ماده:**

دولت د کسبگرو انفرادی فعالیتونه او په صنفی اتحادیو او کوپراتیفونو کی د هغو ی دخپلی خوښی بر خه اخیستنه هڅوی او حمایت یی کوی ، دکسبگرو دحرفوی مهارتد سطحی د لوړتیا ، د کار د وسایلو ، د اومو موادو دتامین اودهغوی دمحصولاتو دخرڅلاو په کار کی هر اړخیزی مرستی کوی.

**دروویشتمه ماده :**

دولت د کرنی داحیا او پرمختیا په مقصد له کروندگرو او زمکه والو سره متممی مرستی کوی او دکرنی او میکانیزه مختلطو او خصوصی فار مونو په جوړولو او دنویو او شاړو زمکو په آبادولو کی اغیزمنه مرسته کوی .

**خلرویشتمه ماده :**

دولت دکوچیانو اومالدارانو

**ماده بیست و یکم :**

دولت در امر تقویه و گسترش کو پرا تیف ها مساعدت کرده ، اشتراک داو طلبا نه مردم را در آن تشویق می کند .

**ماده بیست ودوم :**

دولت فعالیت های انفرادی پیشه وران و شر کت داوطلبانه آنها را در اتحادیه های صنفی و کوپراتیف ها تشویق وحما یه نموده درامر ارتقای سطح مهارت حرفوی پیشه وران ، تامین وسایل کار، مواد خام و فرو ش محصو لات شان کمک های همه جانبه مبذول می دارد .

**مادهٔ بیست و سو م:**

دو لت به منظور احیا و انکشاف زراعت، کمک های متمم زرا عتی را به دهقا نان وزمین دا را ن انجا م میدهد ودر ایجاد فا رم ها ی زراعتی ومیکا نیز ه مختلط وخصوصی و آبا دی زمین های بکرو بایر مسا عد ت مو ثر می نما ید .

**ماده بیست و چهارم :**

دولت برای کوچیان و



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاره له څرڅايونو څخه استفادې امکان دقانون سره سم تضمینوی ، د مال داری دودی ، د محصولاتو د خرڅلاو او دهغوی داقتصادی، ټولنیزو او معیشتی شرایطو دښه کولو د پاره د مساعدو شرایطو د برابرولو په مقصد مرسته کوی.

**پنځه ویشتمه ماده :**

دولت د ملی اقتصاد د پرمختیا په مقصد د خصوصی پانګی اچونی مصوونیت تضمینوی ، د صنایعو سوداګری،ودانی، ترانسپورت، کرنی او دخدمتونو دبرخو په پرمختیا کی دملی پانګه والو برخه اخیستنه دقانون سره سم هڅوی او حمایت یی کوی .

دولت د خصوصی متشبثانو سره ګټور او هر اړخیز اړیکی پراخوی او د بهرنی پانګی سره په سیالی کی د خصوصی سکتور ملاتړ کوی اود مالی ، کریدتی، ګمرکی‌او دبیو د سیاست د تنظیم په وخت کی د خصوصی سکتور ګټی د قانون سره سمی په پام کی نیسی.

مالداران امکان استفاده از چراگاه ها را طبق قانون تضمین نموده جهت ایجاد شرایط مساعد برای رشد مالداری ، فروش محصولات بهبود شرایط اقتصادی‌اجتماعی ومعیشتی آنها مساعدت می کند.

**ماده بیستو پنجم :**

دولت مصوونیت سرمایه گذاری خصوصی را به منظور انکشاف اقتصاد ملی تضمین نموده اشتراك سرمایه داران ملی رادر انکشاف صنایع‌تجارت، ساختمان، ترانسپورت زراعت و عرصه های خدمات طبق قانون‌تشویق وحمایه می کند

دولت مناسبات سود مند و همه جانبه را با متشبثان خصوصی توسعه داده و از سکتور خصوصی در مقابل رقابت باسرمایه خارجی حمایه می کند و حین تنظیم سیاست مالی، کریدتی ، گمرکی و قیم منافع سکتور خصوصی راطبق قانون درنظر میگیرد .

**شپږ ویشتمه ماده:**

دغه ماده لغوه شوه .

**اووه ویشتمه ماده :**

دولت د ملی اقتصاد دودی په مقصد دافغانستان د جمهوریت کی دقانون سره سم بهرنی پانګه اچونه هڅوی.

**اته ویشتمه ماده :**

د افغانستان په جمهوریت کی بهرنی اشخاص د عقاری ملکیت حق نه لری.

پر سیاسی نماینده ګیو او بهرنیو دولتونو باندی دعقار پلورل دبالمثل چلند پر اساس او پر هغو بین المللی موسسو باندی چی دافغانستان جمهوریت دهغو غړی وی، د حکومت له موافقی وروسته مجاز دی .

**نهه ویشتمه ماده :**

د ملکیت دوراثت حق داسلام د شریعت سره سم دقانون په واسطه تضمینیږی.

**دیرشمه ماده :**

استملاك يوازی د عامه ګټو دتامین په مقصد دعادلانه او مخکینی عوض په بدل کی دقانون سره سم کیږی .

**مادهٔ بیست و ششم:**

این ماده الغو گردید .

**مادهٔ بیست و هفتم:**

**دولت به منظور رشد** اقتصاد ملی سرمایه گذاری خارجی را در جمهوری **افغانستان طبق قانون تشویق می نماید .**

**ماده بیست و هشتم :**

در جمهوری افغانستان اشخاص خارجی **حق ملکیت** عقاری را ندارند فروش عقار به نماینده گی های سیاسی ودول خارجی بر اساس رویه بالمثل و به موسسات بین المللی که جمهوری افغانستان عضو آن باشد بعد از موافقه حکومت مجاز می باشد .

**ماده بیست و نهم :**

حق وراثت ملکیت **طبق** شریعت اسلام توسط قانون تضمین میگردد .

**ماده سی ام :**

استملاك طبق قانون تنها به مقصد تأمین منافع عامه دربدل عوض عادلانه و قبلی صورت میگیرد .



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

دملکيت مصادره د قانون له حکمه او دمحکمي له پريکړي پرته جايزه نه ده.

**يوديرشمه ماده :**

د افغانستان په جمهوريت کي دقانون او ټولنيز عدالت پر اساس د ماليي او محصول معيارونه ، اندازه او ډولونه ټاکل کيږي .

**دوه ديرشمه ماده :**

دولت د طبيعت ، طبيعي شتمنيو د ساتني اوله طبيعي زيرمو څخه د معقولي استفادي ، د ژوندانه د چاپيريال دښه کولو، داوبو اوهوا دککړيدو د مخنيوي او د ځارويو اوبوټو د نړي دساتني او پايښت په مقصد لازم تدبيرونه نيسي او عملي کوي يي .

**دريم فصل**

**داتباعو تابعيت ،اساسي حقوق، آزادي اوه‌کلفيتونه**

**دري ديرشمه ماده :**

د افغانستان د جمهوريت تابعيت د ټولو اتباعو د پاره برابر او يوشان دي.

دتابعيت ترلاسه‌کول اوله لاسه ورکول او د هغه نوري

مصادره ملکيت بدون حکم قانون و فيصله محکمه جايز نيست .

**ماده سي ويکم:**

در جمهوري افغانستان براساس قانون و عدالت اجتماعي معيار ها، اندازه و انواع ماليه و محصول تعين مي گردد .

**ماده سي ودوم :**

دولت به منظورحفظ طبيعت. ثروتهاي طبيعي و استفاده معقول از منابع طبيعي ، بهبود محيط زيست ، جلو گيري از آلوده گي آب و هوا، حفظ وابقاي عالم حيوانات ونباتات تدابير لازم اتخاذ وعملي مي کند.

**فصل سوم**

**تابعيت ،حقوق،آزاديهاومکلفيت هاي اساسي اتباع**

**ماده سي وسوم:**

تابعيت جمهوري افغانستان براي تمام اتباع مساوي و يکسان است .

حصول واز دست دادن تابعيت وساير مسايل مربوط

(c) ketabton.com: The Digital Library



مربوطی مسالی د قانون سره سمی تنظیمیږی .

هر شخص چی دقانون سره سم د افغانستان دجمهوریت تابعیت لری ، افغان بلل کیږی.

**خلور دیرشمه ماده :**

دافغانستان د جمهوریت له اتباعو څخه هیڅوك په هیواد کی دننه او یا له هیواده بهرته نه تبعیدیږی .

**پنځه دیرشمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت له اتباعو څخه هیڅوك بهرنی دولت ته نه ورتسلیمول کیږی .

**شپږ دیرشمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اتباع له هیواده بهر د دولت ترحمایت لاندی دی.
دولت دهغوی له‌قانونی حقوقو اوګټو څخه دفاع کوی ، په بهرکی دمیشته افغانانو اړیکی دهیواد سره ټینګوی او هیواد ته دهغوی دراستنیدو په‌مقصد مرسته کوی.

**اووه دیرشمه ماده :**

د افغانستان جمهوریت په هیواد کی د میشتو بهرنیو اتباعو اوبی تابعیته اشخاصو

آن توسط قانون تنظیم می گردد .
هر شخصیکه تابعیت جمهوری افغانستان راطبق قانون دارا باشد افغان نامیده میشود .

**ماده سی و چهارم :**

هیچ یك از اتباع جمهوری افغانستان در داخل و یا خارج کشور تبعید نمی شود .

**ماده سی و پنجم :**

هیچ یك از اتباع جمهوری افغانستان بدولت خارجی تسلیم داده نمیشود .

**ماده سی و ششم :**

اتباع جمهوری افغانستان در خارج کشور تحت حمایت دولت قرار دارند . دولت از حقوق ومنافع قانونی آنها دفاع کرده رابطه افغانهای مقیم خارج رابا کشور تحکیم می بخشد و به منظور باز گشت آنها بوطن مساعدت می کند .

**ماده سی وهفتم :**

جمهوری افغانستان حقوق و آزادی های اتباع خارجی و اشخاص بدون

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوق او آزادی دقانون‌سره‌سم تضمینوی ، هغوی مکلف دی چی د افغانستان د جمهوریت اساسی قانون او قوانین‌رعایت کړی .

**اته دیرشمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اتباع ، ښځه وی که نـــر دملیت ، نژاد ، ژبی ، قبیلی، دین، مذهب، سیاسی عقیدی، زده کړی ، شغل ، نســب، ټولنیز دریځ، د اوسیــدو او اقامت دځای له تعلقاتو پر ته دقانون په وړاندی برابر حقوق او مکلفیتونه لری.

داتباعو د حقوقواومکلفیتونو په نسبت دهر ډول غیرقانونی امتیاز ټاکل اویا توپیرممنوع دی .

**نهه دیرشمه ماده :**

ژوند د انسان طبیعی حـق دی. هیڅوك له قانونی مجوزه پرته له‌دغه حق‌څخه نه بی‌برخی کیږی .

**څلوینښتمه ماده :**

د افغانستان په جمهوریت کی دټولو مسلمانانو د پاره د دینی او مذهبی مناسکو دترسره کولو آزادی تضمینیږی .

تابعیت مقیم افغا نستان را طبق قانون تضمین می کند . آنها مکلف اند قا نون اساسی وقوا نین جمهوری افغا نستان را رعایت کنند .

**ماده سی و هشتم:**

اتباع جمهوری افغا نستان اعم از زن و مرد بدون نظر داشت تعلقات ملیت، نژاد ، لسان ، قبیله ، دین ، مذهب، عقیده سیاسی ، تحصیل،شغل ، نسب، دارایی،موقف‌اجتماعی، محل سکو نت واقا مت در برابر قانون دارای حقوق ومکلفیت های مساوی مـــی باشند .

تعیین هر نوع امتیاز غیـــر قانونی ویا تبعیض نسبت به حقوق و مکلفیت های اتباع ممنوع است .

**ماده سی‌و نهم :**

زنده‌گی حق طبیعی انسا ن است هیچ کسس بدون مجوز قانونی ازین حق محروم نمی گردد .

**ماده چهلم :**

در جمهوری افغا نستـــان آزادی اجرای مناسك دینی و مذهبی برای تمام مسلمـا نـان تضمین می گردد .

# رسمی جریده

دنورو ادیانو پیروان دخپلو
مذهبی مراسمو په ترسره کولو
کی آزاد دی .

هیڅوك نه شی کولای چی
د ملی ضد او وگړنیز ضد
تبلیغاتو ، دښمنی د رامنځ ته
کولو اودافغانستان دجمهوریت
دگټو پرخلاف دنورو اعمالو د
ارتکاب په مقصد له دین څخه
ناوړه استفاده وکړی.

**یو څلو ېښتمه ماده :**

**آزادي دانسا ن طبیعي حق**
**دی** .هغه حق د نوروله‌آزادی
**او له عا مه گټو پر ته چـــــی**
**دقانون په وسیله تنظیمیږ ی**
**حدود نه‌لري .**

**آزادی او انسا نی کرامت**
له تعرض څخه مصون دی
**دولت دهغو در ناوی او ملا تړ**
**کوی .**

**دگمی برائت اصلی حا لت**
**دی . تورن تر هغه و خته‌پوری**
**چی د محکمی په قطعی حکـــم**
**محکوم** شوی نه وی بی گناه
**گڼل کیږی .**

هیڅ عمل جرم نه‌شی‌بلـــل
کیدلای مگر دقــــانون‌دحکمونو
سره سم .

هیڅوك نیول کـیدلای اود
جرم په کولو تورن کیدلای نه

پیروان سایر ادیـان در
اجرای مراسم مذهبی شا ن
آزاد می باشند

هیچ شخص نمی توا ند به
منظور تبلیغات ضد ملی وضد
مردمـی ، ایجاد دشمنـی‌وار
تکاب سایر اعمال خـــلاف
منافع جمهوری افغا نستـــان
از دین سو ء استفاده کند .

**ماده چهل و یکم :**

آزادی حق طبیعی انسا ن
است این حق جـــز آزادی
**دیگران و منا فع عا مه کــــه**
توسط قانون تنظیم میگردد
حدودی ندارد .

آزادی و کرامت انسا نی
ازتعرض مصئون بوده دو لت
آنرا احترام و حمایت می‌کنند .

برا ئت ذمه حالت اصلیست
متهـم تا زما نی‌که به حکـم
قطعی محکمه محکوم نشــــده
بیگناه شسنا خته می شود .

هیچ عملی رانمیتوا ن جرم
شمرد ، **مگر مطابق به احکام**
قانون .

هیچکس رانمیتوا ن‌گرفتار

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی مگر د قانون دحکمونـــو سره سم .

**هیڅوك تو قیفیدای نه شی مگر دواکمنی محکمی په‌استیذان او د قانون دحکومونو سره‌سم.**

**هیڅوك مجا زا ت کید لای** نه شی، مگردمحکمی په‌حکم د **قانون د حکمو نو سره سم او دهغه جرم په تناسب چی‌کړی یی دی .**

**جرم یو شخصی عمل د ی او په کولو سره یی بل څوك نه مجازات کیږی .**

**تورن حق لری چی په خپله** اویا دمدافع وکیل په واسطه **له ځانه دفا ع و کړی .**

**دوه څلویښتمه ماده :**

د افغانستان په جمهوریت کی له انسانی کرامت څخـــه مخالفه جزا ، شکنجه اوتعذیب جواز نه لری.

د اکراه او گواښ په‌وسیله له تورن او یابل چـا څخه د اقرار ، شهادت او یا خـــر گندونی اخیستل منعه دی .

**هغه** څرگندونه یا شهادت چی له تورن یا بـل چا څخـه داکراه په وسیله واخیستـل شی اعتبارنه لری .

**ومتهم به ار تکاب جرم نمـود** مگر مطابق به احکام قانون .

هیچکس رانمیتوا ن توقیف نمود ، مگ ربه استیذان از محکمه با صلا حیت و مطا بق به احکام قانو ن.

هیچکس را نمیتوان مجازات نمود ، مگر به حکم محکمه **مطابق به احکام قا نـــو ن و** متناسب به جرمی که مر تکب شده است .

جـرم امر شخصیست‌وبا ازتکا ب آن شخص دیگر مجا زات نمیشود .

متهم حق دارد شخصا ویا توسط وکیل مدافع از خود دفاع کند .

**ماده چهل ودوم:**

در جمهوری افغا نستـــان جزای مخالف کرامت انسانی، شکنجه و تعذیب جوازندارد.

گرفتن اقرار ، شهادت یا اظهار از متهم یا شخص‌دیگر بوسیله اکراه وتهدید ممنوع **است .**

اظهار یاشهادتیکه از متهم یاشخص دیگر به وسیله‌اکراه گرفته شود اعتبار ندارد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیری دعامه خدمتونو موظف، تورن یا بل څوك دشهادت ، څرگندونی او یا اقرار د اخیستلو په مقصد شکنجه کړی او یا دشکنجی په تعمیل امروکړی، د قانون سره سم مجازات کیږی.

دلوړو مقاماتو په امر باندی استناد ، مرتکب ته دقانون نه دمخالفو اعمالو له ارتکاب څخه برائت نه ورکوی .

**دری خلویښتمه ماده :**

دشخص پوروړ توب دهغه آزادی د سلبیدو موجب کیدلای نه شی .

دپور د تحصیل لاری او وسایل د قانون په واسطه تنظیمیږی .

**څلور خلویښتمه ماده :**

د افغانستان په جمهوریت کی دکور مصوونیت تضمینیږی هیڅوك د دولت د استازی په شمول نه شی کولای چی داوسیدونکی له اجازی او له هغو حالاتو او طرز څخه پرته چی په قانون کی تصریح شوی وی، دچاکورته ورننوزی او یا هغه وپلټی.

هر گاه موظف خدمات عامه متهم یا شخص دیگر را به منظور گرفتن شهادت، اظهار ویا اقرار شکنجه نماید ، یا به تعمیل شکنجه امر کند مطابق قانون مجازات می گردد .

استناد به امر مقامات مافوق مرتکب را از ارتکاب اعمال خلاف قانون برائت نمی دهد.

**ماده چهل وسوم:**

مدیون بودن شخص ، موجب سلب آزادی وی شده نمی تواند .

طرز ووسایل تحصیل دین، توسط قانون تنظیم میگردد.

**ماده چهل وچهارم :**

در جمهوری افغانستان مصوونیت مسکن تضمین میگردد .

هیچ شخص به شمول نماینده دولت بدون اجازه ساکن و به غیر از حالات و طرز یکه در قانون تصریح گردیده ، نمیتواند به مسکن شخص داخل شود و یا آنرا تفتیش کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسمی جریده

**پنځه څلو ینبتمه ماده :**

**دافغا نستا ن په جمهوریت** کیډ لیکونو ، دتیلفوني او تیلګرافي مخابرو محر میت تضمینیږي.

**هیڅوک ددولت داستازي په شمو ل نه شي کولای چــــی دقا نون له حکمه پرته دتیلفوني** اوتیلګرافي مخابرو اولیکونو **پلټنه وکړي .**

**شپږ څلویښتمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اتباع چی ددولتی ارګـــانونو ټولنیزو سازمانونو او د چارو د مسوولینو له خوا د دندی د ترسره کولو پ ەوخت کی په غیر قانونی توګـه زیانمــــن کیږي ، دزیان د جبران حـق لري. دزیان دجبـران شرایط او څرنګوالي د قانـون پــه واسطه تنظیمیږي .

**اووه څلویښتمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریـت اتباع حـق لري چـی د دولت په ټولنیز ـ سیاسی ژونـــد او دچارو پـه اداره کی پـــه مستقیمه توګه او یاد خپلـو استازیو له لاری برخه واخلي.

**اته څلویښتمه مده :**

د افغانستان د جمهوریـت

**ماده چهل و پنجم :**

**در جمهوری ا فغا نستا ن محر میت مکا تیب ، مخا بــره** های تیلفونی و تیلگـرا فــی تضمین می‌گردد .

هیچ شخص به شمول نما **ینده دو لت نمیتواند بـــدون** حکم قانون به تفتیش مخابره **های** تیلفونی ، تیلگرافی‌ومکا‌ـ تیب اقدام ورزد .

**ماده چهل‌و ششم :**

اتباع جمهوری افغا نستان که از ار گانهای دولتی ،ساز‌ـ مانهای اجتماعی ومسوولیـــن امور حین اجرای وظیفــــه بصورت غیر قا نو نی‌متضرر میگردند دارای حق جبـران خساره می باشند . شرایط وطرز جبران خساره توسـط قانون تنظیم می گردد .

**ماده چهل و هفتم :**

اتباع جمهوری افغانستان حق‌دارند در زندگی اجتماعی، سیاسی واداره امور دو لـت بصورت مستقیم ویا از طریق نمایندگان خود شرکت‌نمایند.

**ماده چهل‌و هشتم :**

اتباع جمهوری افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتباع دانتخابولو او انتخابیدلو حق لری. له دغه حق څخه داستفادی شرایط اوطرزدقانون په واسطه تنظیمیږی.

**نهه څلویښتمه ماده:**

د افغانستان د جمهوریت اتباع دفکر او بیان دآزادی حق لری.

اتباع کولای شی چی له دغه حق څخه په ښکاره، شفاهی او لیکلی توگه دقانون سره سمه استفاده وکړی.

له خپریدو څخه مخکی د مطبوعاتو سانسور جواز نه لری.

**پنځوسمه ماده:**

د افغانستان د جمهوریت اتباع دقانون سره سم دسوله ییزو غونډو، تظاهراتو او اعتصاب حق لری.

**یو پنځوسمه ماده:**

د افغانستان د جمهوریت اتباع د انفرادی او ډله ییز شکایت، انتقاد او غوښتنی حق لری.

دولتی ارگانونه، ټولنیز سازمانونه اودچارو مسوولین موظف دی چی شکایتونه، غوښتنی او انتقادونه په هغه موده کی چی قانون ټاکلی

دارای حق انتخاب کردن و انتخاب شدن می باشند. شرایط وطرز استفاده از این حق توسط قانون تنظیم می گردد.

**ماده چهل و نهم:**

اتباع جمهوری افغانستان دارای حق آزادی فکرو بیان می باشند.

اتباع میتوانند از این حق بصورت علنی، شفاهی وتحریری طبق قانون استفاده کنند.

سانسور مطبوعات قبل از نشر جواز ندارد.

**ماده پنجاهم:**

اتباع جمهوری افغانستان طبق قانون دارای حق اجتماعات، تظاهرات مسالمت آمیز واعتصاب می باشند.

**ماده پنجاه ویکم:**

اتباع جمهوری افغانستان دارای حق شکایت، انتقاد پیشنهاد انفرادی وجمعی می باشند.

ارگانهای دولتی، سازمان های اجتماعی و مسوولین امور موظف اند به شکایات ،پیشنهادات وانتقادات در موعدیکه قانون تعیین کرده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وخیری او لازم اجـــراآت وکړی.

دانتقاد په خاطر تعقیـــب ممنوع دی.

**دوه پنځوسمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریـــت اتباع دکار او د برابر کار په وړاندی دبرابر مزد دلاس ته وروړلو حق لری.

دولت د کار د عادلانـــه او پرمختللـــو قوانینو د وضـــع کولو اوتطبیق له لاری لـــه دغه حق څخه داتباعو داستفادی دپاره لازم شرایط برابروی .

**دری پنځوسمه ماده :**

داجباری کارتحمیل منعـــه دی. دجنگ، طبیعی آفتونـــو په حالـــت او پـــه نـــورو هغو حالاتو کی چی عامه ژوند او هوساینه تهدید کـــړی ، داجباری کار سرته رسول له دغه امر څخه مستثنی دی .

**څلور پنځو سمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریـــت اتباع د ټولنی داړتیا په پام کی نیولو سره د تخصصـــی ځانگی لـــه مخـــی د دولتـــی دندو دترلاسه کولو او دشغل دانتخاب حق لری.

رسیده گی نموده اجراآت لازم به عمل آور ند.

تعقیب بخاطر انتقادممنوع است .

**ماده پنجاه ودوم :**

اتباع جمهوری افغانستان دارای حق کار ودر یافت مزد مساوی در مقابل کار مساوی می باشند .

دولت از طریق وضع و تطبیق قوانین عادلانه ومترقی کار شرایط لازم رابرای استفاده اتباع از ین حق مساعد می سازد .

**ماده پنجاه وسوم :**

تحمیل کار اجباری ممنوع است .

اجرای کار اجباری در حالت جنگ ، آفات طبیعی وسایر حالاتی که حیات و آسایش عامه را تهدیدکند ازین امر مستثنی میباشد .

**ماده پنجاه وچهارم :**

اتباع جمهوری افغانستان بانظر داشت نیاز مندی جامعه مطابق رشته تخصصی دارای حق احراز وظایف دولتی و انتخاب شغل می باشند .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

**پنځه پنځو سمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اتباع داستراحت حق لري .

دولت د کار د ساعتونو اوله مزدسره دنوبتي رخصتي ټاکل او درخصتیو ، جشنونو او اخترونو په ورځو کې د کار د شرایطو څرنګوالی تنظیموي او د استراحت ، دفرهنګي ، هنري موسسو دشبکو د پراختیا او د بدني روزنې ، ورزش او سالمو تفریحاتو دپاره شرایطبرابروي.

**شپږم پنځوسمه ماده :**

دافغانستا ن جمهوریت اتبا ع په وړیا توګه دزده کړې حق لري .

دولت د بیسوا دی لهمنځه وړلو، د متوازنی ښوونی ا و روزني د تعمیم، په مورنیژبې دزده کړې ، داجباري لومړنیو زده کړو د تامین ، د تخنیکی حرفوي او مسلکي عمو میزده کړو د تدریجي پرا ختیا اود ملي کادرونو د رو زنی دپاره دلو ړو زده کړو د سیستم دودې په مقصد لازم تدبیرونه نیسي .

**دافغانستا ن په جمهوریت**

**ماده پنجاه و پنجم :**

اتباع جمهوری افغا نستان دارای حق استراحت میباشند

دولت تعیین سا عات کار و رخصتی نوبتی با مزد و چگونگی شرایط کار را در روز های رخصتی ، جشن‌هاو اعیاد تنظیم کرده، شرایط استراحت، گسترش شبکه های موسسات فر هنگی ، هنری ، رشد تربیت بدنی ،ورزش وتفر یحات سالم را مسا عد می سازد .

**ماده پنجاه وششم :**

اتبا ع جمهوری افغا نستان دارای حق آموزش را یگان می با شند

دو لت به منظور امحای بیسوادی ، تعمیم تعلیم وتربیه متوازن ، آموزش بهلسان ماد ر ی ، تا مین تعلیما ت ابتدائی اجبار ی ،گستر ش تد ریجی تعلیما ت عمو می تخنیکی حر فو ی و مسلکی ورشد سیستم تحصیلا ت عالی جهت تربیه کادر های ملی، تدا بیرلا زم اتخاذ می کند .

**در جمهو ر ی افغا نستا ن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی د خصوصی سکتور او بهرنیو اشخاصو لخوا د تعلیمی او تحصیلی موسسو جوړول دقانون سره سم مجاز دی .

**اووه پنځوسمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اتباع د روغتیا او ټولنیزو تامیناتو حق لری .

دولت د ملی سراسری طبی خدمتونو د سیستم د هر اړخیزی او متوازنی پراختیا ، د روغتیایی مرکزونو او روغتونونو د پراختیا ، دطب د دکتورانو او طبی خدمتونو د کارمندانو دروزنی، دعمومی ناروغیو دمخنیوی ، دوړیا روغتیایی خدمتونو دپراختیا، دخصوصی طبی خدمتونودتنظیم او هڅونی او د زړو کسانو ، دجګړی او کار د معلولینو او دشهیدانو دپاتی کسانو د پاره د مادی تامیناتو د ښه کولو له لاری لازم تدبیرونه نیسی.

**اته پنځوسمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اتباع دعلمی، تخنیکی او هنری فعالیتونو د آزادی حق لری .

دولت دعلم او د علمی

ایجاد موسسات تعلیمی و تحصیلی توسط سکتور خصوصی واشخاص خارجی طبق قانون مجاز است .

**ماده پنجاه و هفتم :**

اتباع جمهوری افغانستان دارای حق صحت و تامینات اجتماعی می باشند . دولت از طریق توسعه همه جانبه و متوازن سیستم خدمات طبی سراسری ملی ، توسعه شفاخانه ها ، مراکز صحی پرورش دوکتوران طب وکارمندان خدمات طبی، جلوگیری از امراض همگانی ، توسعه خدمات صحی رایگان. تنظیم و تشویق خدمات طبی خصوصی ، بهبود تأمینات مادی برای کهن‌سالان، معلولین جنگ وکار وبازمانده گان شهداء تدابیر لازم اتخاذ می نماید .

**ماده پنجاه و هشتم :**

اتباع جمهوری افغانستان دارای حق آزادی فعالیت های علمی ، تخنیکی و هنری میباشند.

دولت پیشرفت منظم علم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

کادرونو د روزنی منظم پرمختگ تامینوی ، د مولفانو او مخترعانو حقوق ساتی ، په ټولو برخو کی د علمی څیړنو هڅونه او ملاتړ کوی اود علمی څیړنو له نتا یجو څخه اغیزمنه‌استفاده تعمیموی.

**نهه پنځوسمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اتباع په هیواد کی‌د مسافرت او داوسیدنی او اقامت د ځای د آزاد انتخاب حق لری .

دولت کولای شی چی د عامه امنیت او نظم دساتنی ، د ناروغیو د خپریدو د مخنیوی او د اشخاصو د حقوقو او آزادیو د ساتنی په مقصد د هیواد په ځینو سیمو کی مسافرت، اوسیدنه او اقامت په موقتی توگه منعه کړی .

**شپیتمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اتباع حق لری چی د قانون سره سم له هیواد څخه بهر ته مسافرت وکړی ا و وطن ته راستانه شی .

وتربیه کادر های علمی را تامین ،حقوق مولفان و مخترعان راحفظ و تحقیقات علمی رادر تمام عرصه هاتشویق وحمایه کرده ، استفاده‌موثر از نتایج تحقیقات‌علمی راتعمیم می بخشد .

**ماده پنجاه ونهم :**

اتباع جمهوری افغا نستان دارای حق مسافرت‌وانتخاب آزاد محل سکو نت واقا مت در کشور می باشند .

دولت میتواند بمنظور حفظ امنیت ونظم عامه، جلو گیری ازشیوع امراض ، حفظ حقوق وآزادی های اشخاص ، مسافرت ، سکو نت ویا اقامت‌رادر بعضی مناطق کشور موقتاً ممنوع قرار دهد.

**ماده شصتم :**

اتباع جمهوری افغانستان حق دارند طبق قانون بخارج کشور مسافرت وبوطن عودت کنند .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

**يو شپيتمه ماده :**

د افغانستان د جمهوريت هر تبعه مكلف دی چی د افغانستان د جمهوريت اساسی قانون او قوانين رعايت كړی .

دقانون له حكمونو څخه بی خبری عذرنه گڼل كيږی .

**دوه شپيتمه ماده :**

د افغانستان د جمهوريت اتباع او بهرنی وگړی مكلف دی چی دولت ته د قانون سره سمه ماليه او محصول وركړی .

**دری شپيتمه ماده :**

له هيواد خپلواكی ، ملی حاكميت او د هيوادله زمكنی بشپړ تيا څخه دفاع د افغانستان د جمهوريت د اتباعو له وياړه ډك مكلفيت دی .

په وسله وال پوځ كی دخدمت شرايط د قانون د حكمونو سره سم تنظيميږی .

**څلور شپيتمه ماده :**

دولت داتباعو له اساسی حقوقو او آزاديو څخه د استفادی او د مكلفيتونو د تر سره كولو د پاره لازم شرايط برابروی .

هيڅوك حق نه لری چی په

**ماده شصت ويكم:**

هر تبعه‌جمهوری افغانستان مكلف است قانون اساسی و و قوانين جمهوری افغانستان را رعايت كند.

بی خبری از احكام قانو ن عذرپنداشته نميشود .

**ماده، شصت ودوم :**

اتباع جمهوری افغانستان واشخاص خارجی مكلف اندبه دولت طبق قا نون ما ليه‌و محصول بپر دازند .

**ماده شصت وسوم :**

دفاع از وطن ، استقلال، حاكميت ملی و تما ميت‌ارضی كشور مكلفيت پر افتخاراتباع جمهوری افغا نستان ميباشد.

شرايط خد مت در قوا ی مسلح مطابق به احكام قانون تنظيم ميگردد .

**ماده شصت‌و چهارم :**

دولت شرايط لازم را برای استفاده از حقوق و آزادی‌های اساسی وانجام مكلفيت های اتباع فراهم ميسازد .

هيچ‌كس حق ندارد از

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون کی له مندرجو حقوقو او آزادیو څخه دعامه ګټو پرخلاف اودنوروااتباعو دحقوقو او آزادیو په زیان استفاده وکړی .

### خلورم فصل

### لویه جرګه

**پنځه شپیتمه ماده :**

لویه جرګه دملی او تاریخی دودونو له مخی ، د افغانستان دخلکو دارادی تر ټولو لوړه ښکارندویه ده.

**شپږ شپیتمه ماده :**

لویه جرګه له دغه کسانو څخه جوړه ده :

۱ ـ جمهور رئیس او د جمهور رئیس مرستیا لان ،

۲ ـ د ملی شورا غړی

۳ ـ صدراعظم ، د صدراعظم مرستیالان او د وزیرانو دشورا غړی .

٤ ـ قاضی القضات او د قاضی القضات مرستیا لان .

۵ ـ لوی څارنوال .

٦ ـ داساسی قانون دشورا رئیس .

۷ ـ دو لایتونو دشورو اکانو رئیسان .

۸ ـ له هرو لایت څخه په ولسی جرګه کی د هغو

حقوق و آزادی های مندرج در قانون علیه منافع عامه وبه ضرر حقوق و آزادی های سایر اتباع استفاده نماید .

### فصل چهارم

### لویه جرگه

ماده شصت وپنجم :

لویه جرگه مطابق بهسنن ملی وتاریخی عالیترین مظهر اراده مردم افغانستان می باشد.

**ماده شصت وششم :**

لویه جرگه متشکل است از:

**۱ـ رئیس جمهور ومعاونان رئیس جمهور**

۲ـ اعضای شورای ملی .

۳ـ صدراعظم ، معاونان **صدر اعظم واعضای شورای وزیران ،**

**٤ـ قاضی القضات ومعاونان قاضی القضات،**

**۵ـ لوی خارنوال ،**

**٦ـ رئیس شورای قانون اساسی،**

۷ـ روسای شورا های ولا- **یات،**

**۸ـ از هر ولایت بتعداد وکلای آنها در ولسی جرگه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

دو کیلانو په شمیر ، د خلکو
په انتخاب د عمو می، برابری،
آزا د ی ، سری او مستقیمی
رایی اخیستنی له لاری .

۹ ــ دسیاسی ، علمـــی ،
فرهنگی ،ټولنیزو او روحانی
شخصیتو نو له جملی څخـه
حداکثر پنځوس تنه چـــی د
جمهور رئیس په واسطه ټاکل
کیږی .

اووه شپیتمه ماده :

لویه جرگه دغه واکونـــه
لری :

۱ــ د اساسی قانون تصویب
او تعدیل .

۲ــ دجمهور رئیس انتخاب
او د دغه داستعفا منل .

۳ــ د جگړی او متارکی لـه
اعلان سره موافقت .

٤ــ دهغو خورا مهمو مسالو
په باره کی د تصمیم نیــو ل
چی د هیواد په بر خلیـــــک
پوری اړه لری .

اته شپیتمه ماده :

له هغو حالاتو پرته چی په
دغـــه اساسی قانــون کـــی
بل ډول اټکـــل شوی وی ،
لویه جرگه د جمهور رئیس په
واسطه رابلل کیږی، پرانیستل

به انتخاب مردم ، از طریق را
یگیری عمومی ، مساوی، آزاد،
سری ومستقیم

**۹ــحد اکثر پنجاه نفر از
جمله شخصیت های سیا سی
علمی فر هنگی ،اجتما عـــی
ورو حانی که تو سط رئیس
جمهور تعیین میشو ند.**

ماده شصت و هفتم :

لویه جر گه دارای صلاحیت
های ذیل میباشد :

۱ــ تصویب وتعدیل قانون
اساسی ،

۲ــ انتخاب وقبول استعفای
رئیس جمهور ،

۳ــ موافقت به اعـــلا ن
جنگ ومتار که .

٤ــ اتخاذ تصمیم در مورد
مهمترین مسا یلیکه به سر ــ
نوشت کشور ار تباط می
گیرد .

ماده شصت و هشتم :

به‌استثنای حالا تیکه درین
قانون اساسی طور دیگـــــر
پیشبینی شده باشد لویـــه
جرگه توسط رئیس جمهــور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږی او د هغی غونډی د جمهور رئیس او یابل هغه چا تر ریاست لاندی چی جمهور رئیس یی دخپل نایب په توگه وټاکی ، جوړیږی .

دلویی جرگی نصاب د هغی دټولو غړیو ددوو ثلثو په حضور بشپړ یږی .

دلویی جرگی تصمیمونه د هغی د ټولو غړیو د رایو په اکثریت نیول کیږی .

**نهه شپیتمه ماده :**

د ولسی جرگی د ړنگیدو په حالت کی د هغی غړی د نوی ولسی جرگی تر انتخابه پوری خپل غړیتوب د لویی جرگی دغړیو په توگه ساتی.

**اویایمه ماده :**

دلویی جرگی انتخابات د قانون او کړنلاره یی په خپله دلویی جرگی په واسطه تنظیمیږی .

## پنځم فصل

## جمهور رئیس

**یواویایمه ماده :**

جمهور رئیس د دولت مشر دی، خپل واکونه په

دعوت، افتتاح وجلسات آن تحت ریاست او یا شخص دیگری که رئیس جمهور بحیث نایب خود تعیین کند دایر می شود .

نصاب لویه جرگه با حضور دو ثلث مجموع اعضای آن تکمیل می گردد .

تصامیم لویه جرگه به اکثریت آرای مجموع اعضای آن اتخاذ می گردد .

**ماده شصت ونهم :**

در حالت انحلال ولسی جرگه، اعضای آن الی انتخاب ولسی جرگه جدید عضویت خودرا به حیث اعضای لویه جرگه حفظ مینمایند .

**ماده هفتادم :**

انتخابات لویه جرگه توسط قانون وطرز العمل آن توسط خودلویه جرگه تنظیم می گردد .

## فصل پنجم

## رئیس جمهور

**ماده هفتادویکم :**

رئیس جمهور در راس دولت قرار داشته صلاحیت های خود را درعرصه های تقنینیه ، اجرا ئیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقنینیه اجرائیه او قضا ئیه برخو کی ددغه اساسی قانو ن او د افغا نستان د جمهوریت د قوانینو له حکمونو سره سم تعمیلوی.

**دوه اویایمه ماده :**

جمهور رئیس د لویی جرگی دغړیو د رایو په اکثریت اوو کلونو د مودی د پاره انتخابیږی .

یو شخص نه شی کیدلای له دوو څلونه زیات د جمهور رئیس په توگه انتخاب شی .

جمهور رئیس لویی جرگی ته مسوول اوپه راپور ورکولو مکلف دی .

د نوی جمهور رئیس د انتخاب په مقصد لویه جرگه دجمهور رئیس دواك د دوری له پای ته رسیدو څخه مخکی د دیرشو ورځو په موده کی رابلل کیږی .

**دری اویایمه ماده :**

د افغا نستان دجمهوریت هر مسلما ن تبعه چی د څلو یښت کلنی عمریی بشپړ کړی وی ، په خپله اوهمسریی له افغان مور او پلار څخه زیږیدلی اوله مدنی اوسیاسی حقوقو څخه برخمن وی ،

وقضا ئیه مطابق احکام این قانون اساسی و قوا نین جمهوری افغا نستان تعمیل می کند .

**ماده هفتادو دوم :**

رئیسس جمهور به اکثریت آرای اعضای لویه جرگه برای مدت‌هفت سال‌انتخاب میشود.

یك شخص نمیتواند بیشس از دو بار به حیث رئیسس جمهور انتخاب گردد .

رئیس جمهور نزد لویه‌جرگه مسوول و مکلف به ارائه گزارشس می باشد .

بمنظور انتخاب رئیسس جمهور جدید لویه جرگه‌طی مدت سی روز قبل از ختم دوره صلاحیت رئیس‌جمهور دعوت می گردد .

**ماده هفتاد و سوم :**

هر تبعه مسلمان جمهوری افغانستان که سن (٤٠) سالگی را تکمیل کرده خود و همسروی از والدین افغان متولد واز حقوق مدنی وسیاسی بر خور دار باشد بحیث

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمهور رئیس په توګه
انتخابیدلای شی .

**څلور اویایمه ماده :**

جمهور رئیس په لویه جرګه
کی له انتخابیدلو وروسته په
لاندی ډول لوړه کوی :

(( دلوی خدای په نامه
لوړه کوم چی داسلام دسپیڅلی
دین داساسونو حمایت ، د
اساسی قانون رعایت او د هغه
دتطبیق څارنه اود افغانستان
د خپلواکی ، ملی حاکمیت او
ځمکنی بشپړتیا ساتنه
وکړم ، د اتباعو اساسی
حقوق او آزادی وساتم او
خپلی ټولی هلی ځلی دټولنیز
عدالت ، د خلکو د نیکمرغی
، دسولی د ټینګښت اود
هیواد د پرمختګ دتامین په
خاطر په کار واچوم)) .

**پنځه اویایمه ماده :**

جمهور رئیس ددغه اساسی
قانون پرنورو مندرجو واکونو
برسیره دغه واکونه لری :

۱ـ دوسله وال پو ځ لوړ
قیادت .

۲ـ د قوانینو او د ملی
شورا د مصوبو توشیح ،

۳ـ د حکومت د جمهور رئیس

رئیس جمهور انتخاب شده
میتوانند .

**مادهٔ هفتاد و چهارم :**

رئیس جمهور بعد ازانتخاب
در لویه جرگه حلف آتی‌را
بجا می آورد :

«بنام خداوند بزرگ
سوگند یاد می کنم که
اساسات دین مقدس اسلام
را حمایت ، قانون اساسی
را رعایت واز تطبیق آن مواـ
ظبت‌نموده از استقلال، حاـ
کمیت ملی و تمامیت ارضی
افغانستان حراست کنم .
حقوق وآزادیهای اساسی
اتباع را حفاظت‌نمایم وتمام
مساعی خود را بخاطر تامین
عدالت‌اجتماعی ،سعادت‌مردم،
تحکیم صلح وترقی کشور به
کار برم.»

**مادهٔ هفتاد وپنجم :**

رئیس جمهور علاوه بـر
سایر صلاحیتهای مندرج‌این
قانون اساسی ، دارای صلا
حیت های آتی میباشد :

۱ ـ قیادت اعلی‌قوای‌مسلح

۲ـ توشیح قوانین ومصوـ
بات شورای ملی .

۳ـ تعیین صدر اعظم

دپاره د هر [illegible] صدر [illegible] ټاکل .

٤ـ د ولسی جرګی [illegible] دباور د رایی له [illegible] وروسته د صدراعظم، د صدر اعظم د مرستیالانو او د وزیرانو تقرر منظوری او د هغوی د استعفا منل .

٥ـ د لزوم په وخت کی د وزیرانو د شورا د غونډو تدویر او مشری .

٦ـ د قاضیانو د انفکاک منظوری او د قاضیانو، لوړ رتبه کارمندانو او افسرانو د تقرر، ترفیع او تقاعد منظوری ،

٧ـ د سیاسی ، ټولنیزو او اقتصادی سترو مسألو په باب د عمومی نظر غوښتنی یا عامه رایی ته د مراجعی (ریفراندم) په باره کی تصمیم نیول.

٨ ـ د مجازاتو بخښل او کمول .

٩ـ په نورو هیوادونو او بین المللی سازمانونو کی د افغانستان جمهوریت د دیپلوماتیکو نماینده ګیو د رئیسانو ټاکل .

[illegible] به تشکیل حکومت.

٤ـ منظوری تقرر صدراعظم، معاونان صدر اعظم و وزراء بعد از کسب رای اعتماد از جانب ولسی جرگه ،وقبول استعفای آنان،

٥ـ تدویر وریاست جلسات شورای وزیران عندا للزوم .

٦ـ منظوری انسلاك قضات ومنظوری تقرر، ترفیع وتقاعد قضات ، کارمندان و افسران عالیرتبه ، طبق قانون ،

٧ـ اتخاذ تصمیم در مورد تدویر نظر خواهی عمومی یامراجعه به آرای عامه ( ریفراندم ) راجع به مسایل عمده سیاسی ،اجتماعی واقتصادی

٨ـ عفو و تخفیف مجازات.

٩ـ تعیین روسای نماینده گیهای دیپلوماتیک جمهوری افغانستان در کشورهای دیگر وسازمانهای بین المللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

۱۰ ــ دافغانستان په‌جمهو ریت کی د نورو هیوادونـــــو د دیپلو ماتیکو نما ینده گیو د درئیسانو دباور لیکونو منل.

۱۱ ــ داضطرار د حالت ، د عمومی او قسمی سفربری اعلام او پای‌ته رسول یی.

۱۲ــ دلویی جرگی‌په موافقه دجگړی او متارکی اعلام .

۱۳ ــ دقانـــو ن سره‌سم‌د پیسو دخپرولو اجازه اوپولـــی ریفورم .

۱٤ ــ دقانون سره ســـــم دتابعیت او پناه ورکړه.

۱۵ــ دقانون سره ســـــم دنښا نونو، مډا لونواوافتخاری لقبونو ور کړه.

۱٦ــ دافغا نستان جمهوریت دملی سرود منظوری .

۱۷ ــد هغو قوانینو اونورو تقنینی اسنادو لغوه کو لچی داساسی قانون سره د هغونه سمون داساسی قانو ن‌دشورا له خوا تثبیت شوی وی .

۱۸ ــ د جمهوری ریاست‌د اداری دستگاه جوړول .

۱۹ ــ دقانو ن سره ســـــم دنورو واکونو عملی کول .

**۱۰ــقبول اعتماد نامه های** رو سای نما ینده‌گیهای‌دیپلوــ ماتیك کشور های د یـــگـــر **درجمهوری افغا نستان.**

**۱۱ــاعلام حالت اضطرار،** سفربری‌عمومی وقسمی‌وخاتمه دادن به آنها،

**۱۲ــ اعلام جنگ ومتارکه به موافقه لویه جرگه .**

**۱۳ــاجازه نشر پول ور** یفورم پو لی **طبق قانون ،**

۱٤ــ اعطای تا بعیت‌وپناهنده گی **طبق قانون،**

۱۵ــ اعطای‌نشانها ،مدالها والقاب افتخاری **طبق قا نون**

**۱٦ــمنظوری سرود ملـــی** جمهوری **افغا نستان ،**

**۱۷ ــ الغای قوانین وسایر** اسناد تقنینی که عدم مطابقت آنها با قا نون‌اسا **سی توسط** شورای قانون اساسی **تثبیت شده باشد،**

**۱۸ــایجاد دستگـــاه اداری** ریا ست **جمهوری،**

۱۹ــ اعمال سایر صلاحیت **ها طبق قانون،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رئیس کولای شی چی خپل ځینی قانونی واکونه د جمهور رئیس مرستیالانو ته وسپاری .

**شپږاویایمه ماده :**

جمهوررئیس دصعب العلاجی او اوږدی ناروغی اویااستعفاله حالاتو پرته دواك ددوری ترپایه خپلو دندو ته دوام ورکوی. په ټولو هغو حالاتو کیچی جمهور رئیس ونه شی کړای خپلی دندی سرته ورسوی د غه دندی د جمهوررئیس دلومړی مرستیال له خوا ترسره کیږی .

جمهوررئیس په دایمی توگه دکار دوړتیا له لاسه ورکولو، مړینی او یا استعفا په صورت کی لویه جرگه د هغه دلومړی مرستیال په واسطه د نوی جمهور رئیس د انتخاب په مقصد دیوی میاشتی دمودی په ترڅ کی رابلل کیږی.

د استعفاء په حالت کی جمهور رئیس خپله استعفا په مستقیمه توگه لویی جرگی ته وړاندی کوی.

رئیس جمهور میتواند بر خی از صلاحیتهای قانونی خود را به معاونان رئیس جمهور تفویض نماید.

**ماده هفتاد و ششم :**

رئیس جمهور بجز از حالات بیماری صعب العلاج ودوام دار و یا استعفاء الی ختم دوره صلاحیت به وظایف خود دوام میدهد . درتمام حالاتیکه رئیس جمهورنتواند وظایف خود را ایفا نماید این وظایف از طرف معاون اول رئیس جمهور اجراء می شود .

در صورت ازدست دادن دایمی قابلیت کار، مرگ و یا استعفای رئیس جمهور ، لویه جرگه توسط معاون اول اوبه منظور انتخاب رئیس جمهور جدید طی مدت یك ماه دعوت می شود .

در حالت استعفاء، رئیس جمهور استعفای خود را مستقیماً به لویه جرگه ارائه می کند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږم فصل**

**ملي شورا**

**اووه اويايمه ماده :**

ملي شورا ( پار لما ن )د افغانستا ن جمهوريت تر ټولو لوړ تقنيني ارگان دی .

**اته اويايمه ماده :**

ملي شورا دولسي جرگې اوسناله دوو مجلسونو څخه جوړه ده.

**نهه اويا يمه ماده :**

په ولسي جرگه کې د خلکو وکيلان د عمو می ، برابری ، آزا د ی، سری او مستقيمې رايې اخيستنې لــه لاری ديوی پنځه کلنې تقنينيه دوری‌دپاره د قانون سره سم انتخابيږی.

دسنا د مجلس غــــړی (سناتوران) په لاندی تو گــه انتخاب او ټاکل کيږی :

۱ـ له هرو لايت څخه دوه تنه د پنځو کلونو د پاره‌دخلکو په‌انتخاب دعمومی بــرابــری، آزادی، سری‌او مستقيمی‌رايی اخيستنی له لاری .

۲ـ د هرو لايت دشورا د غړيو له جملې څخه دوه تنه ددريو کلونو دپاره د مربوطې شورا په انتخاب.

**فصل ششم**

**شورای ملی**

**ماده هفتاد وهفتم:**

شورای‌ملی (پارلمان) **عالیترین ارگان تقنینی جمهـــوری** افغانستان میباشد .

**ماده هفتادو هشتم :**

شورای ملی متشکل ازدو مجلس ولسی جرگه وسنــا می باشد .

**ماده هفتادو نهم :**

**وکلای مردم در ولسی‌جرگه** از طریق را یگیری عمو مـی، **مساوی ، آزاد سری ومستقیم برای یك دوره تقنینیه پنــج** ساله، طبق قانون انتخـا ب میشو ند .

**اعضا ی مجلس سنا(سنا توران ) به ترتیب‌ذیل انتخاب وتعیین میشوند:**

**۱ــاز هر ولایت دو نفــر برای مدت پنج‌سال به انتخاب** مردم، از طریق رایگیری‌عمومی ،مساوی، آزاد،سری‌ومستقیم،

**۲ــاز جمله اعضای شورای هر ولایت دونفربرای‌مد ت‌سه سال به انتخاب‌شورای مربوط**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - پاتي دريمه برخه‌دملي فرهنگي شخصيتونو د خبيرو، پوهو او باوري افرادو له‌جملې څخه د څلورو کلونو د پاره‌د جمهور رئيس له خواتـــا کل کيږي .

**اتيايمه ماده:**

د ملي شورا د غړيو شمير، شرايط ، د انتخاب او انتصاب طرز د قـــانـــون سره سم تنظيميږي .

**يو اتيايمه ماده :**

ملي شورا ددغه اساســي قانون پرنورو مندرجو واکونو **برسيره** دغه واکونه لري:

۱- د قوانينو او تقنينـــي فرمانونو تصويب، تعديل‌اولغوه **کول** او جمهور رئيس ته يې دتوشيح په غر ض وړانـــدې **کول** .

۲ - دقوانينو تفسير .

۳- ددوه اړخيزو تړو نونو دعقد او فسخ **کولو** تصويب اود بين‌المللي تړو **نونو سره** ديوځای‌کيدو او **ورڅخه** دوتلو تصويب ،

٤- داقتصادي -ټولنيـزی پرمختيا دپلا نونو تصويب اود **هغو** دترسره کولو پــه‌باب **دحکو مت** دراپور تائيد .

**۳- يك ثلث با قيمانده از جمله شخصيت های ملي،فر- هنگی ، افراد خبير، دانشمند وبا اعتبار ،برای مدت چهار سال ،به تعيين‌رئيس جمهور،**

**ماده هشتادم:**

تعداد،شرايط طرز انتخاب وانتصاب اعضای شورای ملی مطابق قانون تنظيم می گردد.

**ماده هشتاد و يکم :**

شورای ملی، علاوه برسایر **صلا حيتها ی مندر ج ا يـــن قانون اسا سی ، دارای صلا حيتهای ذيل ميبا شد :**

**۱ - تصو يب ، تعد يل و لغو قوانين و فرا مين تقنينی** واتقديم آنها به‌رئيس جمهور **جهت تو شيح .**

**۲ - تفسير قوانين .**

۳- تصويب عقد و فســخ معا هدات دو جانبه و تصويب الحاق به معا هدات بين‌المللی وانفصال از آنها ،

**٤ - تصو يب پلان هـــای** انکشاف اقتصا دی -اجتماعی **وتا ئيد گزارش حکو مت د ر** مورد اجرای آنها ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ـ ددولتی بودجی تصویب اودهغی داجرا په باب دراپور څیړنه .

٦ـ دااداری واحدونوجوړول او تعدیل یې .

۷ـ دوزارتونو جوړول او لغوه کول ،

۸ـ د جمهور رئیس د وز پیژندنی او غوښتنی له مخی د جمهور رئیس د مرستیالانو د ټاکلو او عزل په باب دتصمیم نیول.

۹ـ دو لت ته دپــــور دا خیستلو اجازه او دانحصار دورکړی په‌شمول په ملـــی اقتصاد کی داساسی اهمیت لرونکی امتیاز ورکړه .

۱۰ـ دقانون سره سم د نښانونو ، مډالونو اوافتخاری لقبونو وضع کول ،

۱۱ـ له نورو دولتونو او بین المللی سازمانونو سره داړیکو دټینگولو تائید .

۱۲ ـ داستجواب په‌غوښتنه کی د حکومت په واك کی د شاملو اجراآتو په‌بــــاب د صدراعظم او د حکومت دغړیو دځواب اوریدل .

۵ ـ تصویب بودجه دولتی وبررسی گزارش در مورد اجرای آن .

٦ ـ ایجادواحدهای اداری و تعدیل آنها .

۷ـ تاسیس ولغو وزارتها.

۸ـ اتخاذ تصمیم در مورد تعیین وعزل معاونان رئیس جمهور به اساس معرفی ومطالبه رئیس جمهور .

۹ ـ اجازه اخذ قرضه به دولت واعطای امتیاز دارای اهمیت اساسی در اقتصادملی به‌شمول اعطای انحصار .

۱۰ ـ وضع نشانها ، مدالها والقاب افتخاری، طبق قانون .

۱۱ ـ تائید برقراری روابط با دول دیگر و سازمان های بین المللی .

۱۲ـ استماع جواب صدراعظم واعضای حکومت در مورد اجراآت شامل صلاحیت حکومت در جلسه استجواب .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولسي جرگه

**دوه اتیایمه ماده :**

ولسي جرگه دغه اختصاصي واکونه لري :

۱ـ دوزیرانو شورا او یا د هغې یوه غړی ته دباوردرایی دورکړې او یا د باور د سلب په باب دتصمیم نیول .

۲ـ دولسي جرگې او سناتر مینځ دنظر د اختلاف په‌صورت کې داقتصادي ـ تو لنیزی پرمختیا دپلانونو او د دولتي بودجې دطرحې په‌باب دوروستني پریکړې کول .

**دری اتیا یمه ماده :**

دملي شورا هر مجلس په لومړنی اجلاس کې د خپلـو غـړ یو له مینځـه د و ثیقو د څیـړ لـو د پـاره یـو کمیسیون انتخابوی . د غـه کمیسیون مربو ط مجلس تـه‌د څیړنی د نتیجو راپور ورکوی.

**څلور اتیایمه ماده :**

ولسي جرگه دخپلو غړیو له جملې‌څخه دټولې تقنینیه دوری دپاره په لومړنی اجلاس کـې درئیس ، ددوومرستیالانـو او دوو منشیانو په ترکیب اداری هیات انتخابوی .

**ماده هشتا دو دوم :**

ولسي جر گه دارای صـلا حیت های اختصا صی ذیـل میبا شد :

۱ـاتخاذ تصمیم در مورد اعطای رای اعتماد ویاسلب اعتماد از شورای وزیران ویا یکی از اعضای آن.

۲ـ اتخاذ فیصله نهایی‌راجع به طرح پلانهای انکشــاف اقتصادی اجتماعی وبود جه دولتی درصورت اختلاف نظـر بین ولسی جر گه وسنا .

**ماده هشتادو سوم:**

**هر مجلس شورای ملی در او لین اجلاس ، کمیسیو نی را از بین اعضای خود جهت** بررسی وثایق ، انتخاب میکند این کمیسیو ن نتا یج بررسی **را به مجلس مر بوط گزارش مید هد .**

**ماده هشتادو چهارم :**

ولسی جر گه از جملـــه اعضای خود برای تمام دور ه تقنینیه در اولین اجلاس ، هیئت اداری رابه ترکیـــب رئیس ، دومعاون ودو منشی انتخاب می کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

سنا د خپلو غړیو څخه د پنځوګلونو دپاره درئیس اودیوه کال دپاره ددوو مرستیالانو او دوو منشیانو په ترکیب اداری هیئت انتخابوی.

دملی شورا د مجلسونو رئیسان د مربوطو غونډو لارښوونه او د نظم تامین په غاړه لری . درئیسانو په غیاب کی یوتن مرستیال د هغوی دندی سرته رسوی .

**پنځه اتیایمه ماده :**

دملی شورا عادی اجلاس په کال کی دوه ځله د سنبلی دمیاشتی په لومړی اووه نی او دحوت دمیاشتی په لومړی اووه نی کی جوړیږی .

دملی شورا د هر عادی اجلاس موده دری میاشتی ده.

که چیری دملی شورا په اجلاس کی کلنی بودجه اویا پرمختیایی پلان مطرح وی د ملی شورا د اجلاس موده دهغو له تصویب څخه پخوا پای ته رسیدلای نه شی .

که چیری بودجه د مالی کال له پیل څخه پخوا تصویب نه شی، د تیرکال بودجه دنوی

سنا از جمله اعضای خود، هیئت اداری را به ترکیب رئیس برای مدت پنج سال، ، دو معاون ودومنشی رابرای مدت یکسال انتخاب می کند .

روسای مجالس شورای ملی،رهبری وتامین نظم جلسات مربوط رابه عهده دارند.در غیاب روسا وظایف آنها را یکی از معاونین انجام می‌دهد.

**ماده هشتا دو پنجم :**

اجلاس عادی شورای ملی سالانه دو بار در هفته اول ماه سنبله و هفته او ل ماه حوت دایر می شود .

مدت هر اجلاس عادی شورای ملی سه ماه می‌باشد. در صو ر تیکه در اجلاس شورای ملی بودجه سالا نه یا پلان انکشافی مطرح باشد مدت اجلاس شورای ملی قبل از تصویب آن خاتمه یافته نمی تواند .

هر گاه تصویب بودجه قبل از شروع سال مالی صورت نگیرد ، بودجه سال گذشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال دبودجې د تصویب تروخته پورې تطبیقیږي .

دملي شورا فوق العاده اجلاس دجمهوررئیس دتصمیم، دمجلسونو د هریوه رئیس د غوښتنې او یا د هر یوه مجلس د غړیو د پنځمې برخې د غوښتنې له مخې جوړیدلای شي .

**شپږ اتیایمه ماده :**

دملي شورا مجلسونه په ځانگړي یا گډه توگه غونډې کوي .

دملي شورا دمجلسونو د گډو غونډولاربښوونه پهوارسره دهغو درئیسانو لهخوا کیږي.

دملي شورا اجلاس دجمهور رئیس له خوا پرانیستل کیږي اوپای ته رسول کیږي .

دملي شورا دتقنینیه دورې لومړنی اجلاس د جمهور رئیس په وسیله د ولسي جرگې د انتخاباتو له پای ته رسیدو وروسته د دیرشو ورځو د مودې په ترڅ کې رابلل کیږي .

**اووه اتیایمه ماده :**

دملي شورا د هر مجلس نصاب د هغه دغړیو ددوودریو

تازمان تصویب بودجه سال جدید تطبیق می شود .

اجلاس فوق‌العاده شور ای ملی بر اساس تصمیم رئیس‌جمهور، مطالبه رئیس هریك از مجالس ویا تقاضای یك خمس اعضای هر مجلس دایر شده می تواند .

**ماده هشتاد و ششم :**

مجالس شورای ملی به صورت جدا گانه یا مشترك تشکیل جلسه میدهد.

جلسات مشترك مجالس شورای ملی، از طرف روسای آن بالنو به رهبری میشود.

افتتاح و اختتام اجلاس شورای ملی توسط رئیس جمهور صورت میگیرد .

اولین اجلاس دوره تقنینیه شورای ملی بوسیله رئیس جمهور طی مدت سی روز بعد از ختم انتخابات ولسی جرگه دعوت می شود .

**ماده هشتاد و هفتم :**

نصاب هر مجلس شورای ملی با حضور دو ثلث اعضای

برخو په حضور بشپړیږی .
دهر مجلس تصمیم د هغـه دټولو غړیو درایوپه اکثریـت نیول کیږی .

**اته اتیایمه ماده :**

د ملی شورا د مجلسونـــو جلا او گډی غونـــډی علنـی دی ، مگر دا چی مجلس د هغو دسری والی په باب تصمیم ونیسی .

ددواړو مجلسونو دبحثونو جریان ثبتیږی .

**نهه اتیایمه ماده :**

د ملی شورا هر مجلس له خپلو غړیو شخه د هر مجلس په واك کی ددننه مسالـــو دلومړنی څیړنی او چمتوکولو په مقصد دایمی کمیسیو نونه انتخابوی .

**نوی یمه ماده :**

دملی شورا هر مجلس واك لری چی د لزوم په صـــورت کی د څیړنـــی او پلټنـــی کمیسیونونه او نور موقتـــی کمیسیونونه جوړ کړی .

د څیـــړنی او پلټنـــی د کمیسیونونو د نــــد ی او کړنلاره د ملی شورا د هریوه مجلس له خوا تنظیمیږی .

آن تکمیل میشود تصمیـم هر مجلس به اکثریت آرا ی مجموع اعضای آن اتخاذ می گردد .

**ماده هشتادو هشتم :**

جلسات جداگانه ومشترك مجالس شورای ملی علنـی می باشد مگر اینگه مجلس بهسری بودن آن تصمیم بگیرد.

جریان مباحثات هردومجلس ثبت می گردد.

**ماده هشتادو نهم :**

**هر مجلس شورای ملـــی، کمیسیو نهای دا یمی رااز بین** اعضای خود ، جهت بر رسی **مقد ماتی و آماده سا ختـــن مسا یل داخل صلا حیت هر مجلس ، انتخاب میکند .**

**ماده نودم :**

هر مجلس شورای ملـی صلاحیت دارد در صورت لزوم کمیسیون‌های تحقیق ، تفتیشس وسایر کمیسیون های موقتـی را ایجاد کند.

وظایف وطرز العمـــــل کمیسیون های تحقیـــــق وتفتیش توسط هریك ازمجالس شورای ملی تنظیم میگردد.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولسي جرګه

**یونوی یمه ماده :**

دولسی جرګی غړی حـق لری چی د استیضـاح پـــه غونډه کی صدراعظم او یا د حکومت هر یو غــړی تــر استیضاح لانـدی ونیسی . د استیضاح ځـواب په لیکلـی یا شفاهی توګه وړاندی کیږی.

ولسی جرګه کولای شی چی دورکړ شوی ځواب له مخـی له حکومت څخه دباور دسلب موضوع و څیـړ ی .کــه چیــر ی حکـو مـت دباورد سلب سره مخامخ شیدوزیرانو دنوی شورا تر جوړیدو پوری خپلو دندو ته دوام ورکوی .

**دوه نوی یمه ماده :**

دوزیرانو د شورا غـــړی کولای شی چی د غونډی د رئیس په اجازه په مشور تـی رایی سره د ملی شوراددوا ړو مجلسونو او د هغو ددا یمـی کمیسیونونو په غونډو کــی برخه وا خلی .

**دری نوی یمه ماده :**

دملی شورا غړی په جلا او ګډ اجلاس کی درایی او نظر دڅرګندولو حق لری.

**ماده نودو یکم:**

اعضای ولسی جر گه حـق حق دارند در جلسه استیضاح صدراعظم ویا هریك از اعضای حکومـت را مورد استیضاح قرار دهند ، پاسخ به‌استیضاح به‌صورت تحریری یا شفاهی ارائه، میگردد .

ولسی جر گه میتوا ند بر اساس‌پاسخ ارائه شده‌موضوع سلب اعتماد از حکو مت رابر رسی کند.

در صورتیکه حکو مت مورد سلب اعتماد قرار گیرد تـا تشکیل شورای وزیران جدید به‌وظایف خود ادامه مید هد.

**ماده نودو دوم :**

**اعضا ی شورای وزیران . میتوانند ، با کسب اجـا زه رئیس جلسه ، بارای مشو رتی در جلسات مجلسیـــن شو رای ملی و کمیسیـــو ن های دا یمی آنها شر کـت نمایند .**

**ماده نودوسوم :**

اعضای شورای ملی دراجـلا س جدا گا نه و مشترك‌دارای حق رای واظهار نظر مـی باشند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دملی شورا هیڅ غړی د ملی شورا په دننه اویا بهر کی درایی یا نظر دڅرګندولو په خاطر تر عدلی تعقیب لاندی نه نیول کیږی.

دملی شورا غړی د مربوط مجلس له موافقی پرته اودملی شورا د دوو اجلاسو ترمینځه د هغی د اداری هیئت له موافقی پر ته د څرګند جرم دحالاتو په استثنا نیول کیدلای او توقیفیدلای نه شی او تر عدلی تعقیب لاندی نه نیول کیږی.

که چیری د ملی شورا غړی دڅرګند جرم په حالت کی ونیول شی باید د مربوط مجلس اداری هیئت ته خبر ورکړ شی.

**خلور نوی یمه ماده:**

دغه مقامات د ملی شورا هریوه مجلس ته د قانون د وضع کولو، تعدیلولو او لغوه کولو د پیشنهاد حق لری:

۱ـ جمهور رئیس.

۲ـ د ملی شورا ددواړو مجلسونو دایمی کمیسیونونه

۳ـ دهرمجلس د غړیو لږ ترلږه لسمه برخه.

هیچ عضو شورای ملی به خاطر رای یا اظهار نظر در داخل یا خارج اجلاس شورای ملی مورد تعقیب عدلی قرار نمی گیرد.

عضو شورای ملی بدون موافقه مجلس مربوط و دربین دواجلاس شورای ملی بدون موافقه هیئت اداری آن به استثنای حالات جرم مشهود گرفتار و توقیف شده نمیتواند ومورد تعقیب عدلی قرار نمی گیرد.

هر گاه عضو شورای ملی در حالت جرم مشهود گرفتار گردد باید به هیئت اداری مجلس مربوط اطلاع داده شود.

**ماده نود و چهارم:**

مقامات ذیل حق پیشنهاد وضع، **تعدیل و لغو قانون را به هر یک از مجلسین شورای ملی، دارا میباشند:**

**۱ ـ رئیس جمهور.**

**۲ـ کمیسیون های دایمی مجلسین شورای ملی.**

**۳ ـ حد اقل عشر اعضای هر مجلس.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ــ د وزیرانو شورا .
٥ــ ستره محکمه .
٦ــ لویه څارنوالی .

که چیری دقانون و ضـــع کول، تعدیلو ل او لغوه کول ددولت د لگښتونو زیاتوا لی یا دعوایدو کمښت را مینځتـــه کړی پدغه باب د حکو مـــت مخکینی موافقه‌تر لاسه کیږی.

**پنځه نوی یمه ماده :**

له هغو حالاتو پر ته چـــی په دغه اساسی قانو ن کی په بل ډول اټکل شویدی د یـــو اتیایمی مادی د مندرجواکو نو په‌باب دیوه مجلس تصمیمو نه بل مجلس ته استول کیږی .

که‌چیری‌دیوه مجلس تصویب دبل مجلس له‌خوا ردشـــی، توافق ته درسیدو په مقصد دداړو مجلسونو له غړ یـــو څخه په‌برابر شمیر گډهیئـــت جوړیږی .د گډ هیئت تصمیم چی دهیئت دغړیو دړا یو په دوو ثلثو نیول شـــوی وی، د جمهـــــور رئیس لـــــه توشیح وروسته نا فذ گڼـــل کیږی که چیری گـــډ هیئت د نظر دا ختلاف په‌لیری کولو بریالی نه‌شی ، مو ضو ع‌دملی

٤ــ شورای و زیرا ن .
٥ – ستره محکمه .
٦ــ لویه څارنوالی .

در صو ر تی که و ضع ، تعد یل و لغو قا نو ن افزایش مصارف و یا کا هش عوایـــد دو لت را به بار آورد ، موا ـ فقه قبلی حکو مت در زمینـــه حا صل میگردد .

**ماده نودو پنجم :**

به استثنای حا لاتی که‌در ین قا نون اسا سی طور د یگر پیشبینی شده است ، تصا ـ میم یك مجلس در مورد صلا ـ حیتهای‌مندرج مادهٔ‌هشتادو یکم به مجلس دیگر فر ستـــا ده میشود .

در صو ر تی که تصو یب یك مجلس از جا نب مجلس دیگر رد شود ، به منظور نیل به توا فق ، هیئت مختلط به تعداد مساوی ، از اعضای هر دو مجلس ایجاد میگردد .

تصمیم‌هیئت مختلط که‌به‌دو ثلث‌آرای اعضای هیئت اتخاذ گردیده باشد، بعد ازتو شیح رئیس‌جمهور نافذ شمرده‌میشود

هرگاه هیئت مختلط مو فق به رفع اختلاف نظر نشود ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورا ددواړو مجلسونو په ګډه غونډه کي څېړل کيږي او د هغي په باب تصميم د ګډي غونډي د غړيو درايو په اکثريت نيول کيږي .

**شپږ نوي يمه ماده :**

د ملي شورا تصميمونه د جمهور رئيس له توشيح وروسته نافذيږي .

که چيري جمهور رئيس د ملي شورا د تصميم سره موافقه ونه لري ، کولای شي چي هغه د وړاندي کيدو له نيټي څخه ددېرشو ورځو په ترڅ کي د دلايلو په څرګندولو سره ملي شورا ته مسترد کړي

ددېرشو ورځو د مودي په تيريدو سره او همدغه شان که چيري دملي شورا مجلسونه د خپل راتلونکي اجلاس په ځانګړو غونډو کي هغه بيا دغړيو درايو په دوو دريمو برخو تصويب کړي ، تصميم نافذ ګڼل کيږي او جمهور رئيس هغه توشيح کوي .

**اووه نوي يمه ماده :**

جمهور رئيس کولای شي

موضوع در جلسه مشترك مجلسين شوراي ملي بررسي وتصميم درآن باره به اكثريت آراي اعضاي جلسه مشترك انخاذ ميگردد .

**ماده نودوششم :**

تصاميم شوراي ملي ، بعد از توشيح رئيس جمهور ، نافذ ميگردد .

در صورتي كه رئيس جمهور به تصميم شوراي ملي موافقه نداشته باشد ميتواند آنرا در ظرف سي روز از تاريخ تقديم ، باتذكر دلايل ، به شوراي ملي مسترد نمايد.

با سپري شدن مدت سي روز و همچنان در صورتي كه مجالس شوراي ملي در جلسات جداگانه اجلاس آينده خود آن را به دو ثلث آراي اعضاء مجددا تصويب نمايد ، تصميم نافذ شمرده ميشود ورئيس جمهور آنرا توشيح مينمايد .

**ماده نودو هفتم :**

رئيس جمهور ميتواند در

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی دو لسی جر گی او سناد
رئیسانو، صدر اعظم، قاضی‌ـ
القضات او داساسی قانون
دشورا درئیس په سلادولسی
جرگی یا ملی شورا ړنگیدل
دموجبه دلایلو په څرگندولـو
سره اعلام کړی .

نوی انتخابات دو لسی
جرگی یاملی شورا له ړنگیدو
وروسته ددریو میاشتو په‌موده
کی کیږی .

نوی ولسی‌جرگه یاملی‌شورا
له نویو انتخا باتو و روستـه
تریوه کاله پوری ړنگید لای
نه شی. ولسی جرگه‌یاملی‌شورا
د جمهـور ر ئیس د واك
ددوری د وروستیو شپـږو
میاشتو په موده‌کی ړنگیدونکی
نه‌ده .

**اته نوی یمه ماده :**

قوانین او د ملی شـورا
مصوبی په پښتو او دری ژبو
خپریږی او کیدای شی چـی
هغه دهیواد دنورو ملیتونو په
ژبو هم خپری شی .

**نهه نوی یمه ماده :**

د ملی شورا د هر مجلس
اودهغه ددایمی کمیسیونو د

مشوره با رو سای و لسی ـ
جر گه ، سنا ، صدر ا عظم ،
قاضی القضا ت ور ئیس
شورای قا نو ن اسا سی ،
انحلال و لسی جر گه یا شو ـ
رای ملی را با ذگر د لایل
موجبه آن اعلام نماید. انتخا ـ
بات مجدد در خلال مدت سه
ماه بعد از انحلال ولسی‌جرگه
یا شورای‌ملی، صورت‌میگیرد.
انحلال و لسی جر گه یا
شورای ملی جد ید الی یك
سال بعد از انتخابات مجدد،
صورت گر فته نمیتواند .

ولسی جر گه یا شور ای
ملی ، در جر یان شش مـاه
اخیر دوره صلاحیت ر ئیس
جمهور ، غیر قابل ا نحـلال
میبا شد .

**ماده نودو هشتم :**

قوا نین ومصوبات شورای
ملی به لسان های پشتو ودری
به نشر میرسد ومیتوان‌آنرا
بزبان های سایر ملیت هـای
کشور نشر نمود .

**ماده نودو نهم :**

طرز فعا لیت هر مجلس
شورای ملی و کمیسیو نهای

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیت طرز د مربوط مجلس
د طرز العمل په واسطه د
اساسي قانون او نافذوقوانینو
سره په سمو ن کی تنظیمیږی.

**اووم فصل**

**دوزیرانو شورا**

**سلمه ماده :**

د وزیرانو شورا (حکومت)
دافغانستا ن جمهوریت ترټولو
لوړ اجرائیوی ارگا ن دی.

دوزیرانو شورا له د غــو
کسانو څخه جوړه ده:

ـ صدراعظم .
ـ د صدراعظم مرستیالا ن.
ـ وزیران .

**یوسلو یوه یمه ماده :**

موظف صدراعظم د تقنینیه
دوری په لومړنی اجلاس کی
دکورنی او بهرنی سیاســـت
تگ لاره او دحکومت تر کیب
دباور د رایی د اخیستلو پـــه
مقصد ولسی جرگی ته وړاندی
او معرفی کوی.

صدراعظم دباور د رایی اود
جمهور رئیس د منظوری لـه
اخیستلو وروسته د کورنی او
بهرنی سیاست تگـلاره او د
حکومت غړی سناته وړاندی او
معرفی کوی .

دایمی آن تو سط طرز ا لعمل
مجلس مر بوط ، در مطا بقت
با احکام قانون اساسی وقوا-
نین نا فذ ، تنظیم میگردد .

**فصل هفتم**

**شورای وزیران**

**مادهٔ صدم :**

شورای وزیران ( حکو-
مت ) عا لیترین ارگان اجرا-
ئیوی جمهوری افغا نستـا ن
میبا شد .

شورای و زیران مر کـب
است از :

ـ صدراعظم .
ـ معا ونان صد راعظم .
ـ وزرا ء .

**ماده یك صدو یکم:**

صدر اعظم موظف دراولین
اجلاس دوره تقنینیه خــط
مشی سیاست داخلی وخارجی
تر کیب حکو مت راجهت اخذ
رای اعتماد به ولسی جـرگه
ارائه ومعر فی می کند .

صدراعظم بعد از اخذ رای
اعتماد و منظور ی رئیـــس
جمهور خط مشی سیاست
داخلی خارجی واعضای حکومت
را به سنا ارائه ومعرفی می
کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

**يوسلو دويمه ماده :**

د وزيرانو شورا ولسي جرگي او جمهور **رئيس ته** مسوله او دراپور په ور کولو مکلفه ده.

**يوسلو دريمه‌ماده :**

د وزيرانو شورا د غه دندي او واکونه لري :

۱ ـ دکورني او بهرني سياست دتگ لاري طرح او تطبيق .

۲ ـ د ملي اقتصاد دچا رو د اجرا کولو تا مين، د اقتصادي او ټولنيزي پر مختيا دپلانونو طرح کول، ددولتي بودجي ترتيب، دپلانونو او بودجي تطبيق او ملي شورا ته دهغوداجرا کولو په‌باب دراپور وړاندي کول.

۳ ـ د عامه گټو دِدفاع، دقانوني ملکيت د ټولوډولونو دِ حمايت ، د عامه نظم او امنيت د تامين‌اوداتباعو د حقوقو او آزاديو دِ ساتني په مقصد دتدبيرونو نيول.

٤ ـ **د قانون سره** سم دبهرنيو ا ړ يکو لارښوونه ، دنورو دولتونو

**ماده يك صدو دوم :**

شوراي وزيران در برابر ولسي جرگه ورئيس جمهور مسوول ومكلف به ارائه‌گزارشس ميبا شد .

**ماده يك‌صدو سوم :**

**شوراي و زيرا ن داراي وظايف وصلا حيتها ي ذيل** ميبا شد :

**۱ـ طرح و تطبيق خط مشي سياست‌داخلي وخارجي**

۲ـ تا مين اجراي امور اقتصاد ملي ، **طرح پلانها ي انكشا ف اقتصادي واجتما عي تر تيب بو د جه دو لتي ، تطبيق پلا نها وبو دجه‌وارائه گزارش مبني بر ا جر ا ي** آنها به شوراي ملي ،

**۳ ـ اتخا ذ تدا بير بمنظور دفا ع از منا فع عامه، حمايت‌تمام اشكال ملكيت قانوني تا مين نظم وامنيت عا مه وحراست از حقوق و آز ادي هاي ا تباع .**

**٤ـ ر هبري منا سبات خار جي ، بر قرار ي روابط ديپلو ما تيك و عقد**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

او بین ا لمللی موسسو سره ددیپلو ماتیکو اړیکو ټینګول‌او دموافقت لیکونو لاسلیك کول.

٥ـ دجمهور رئیس په تائید دوزیرانو په شورا پورې‌دتړلیو ادارو اوارګانونو جوړول .

٦ـ دقانون سره‌سم دواك په حـدودو کې د مقررې اواسا- سنامی تصو یبول ،

٧ـ جمهور رئیس‌ته دمقررو اساسنامو اودوزیرا نو شورا دمصوبو وړاندې کول .

٨ـ د قانون سره سم‌دنورو واکونو عملی کول.

**یوسلو څلورمه ماده :**

دملی شورا د تعطیل او یا دولسی جرګې د ړنګیـدو پـه وخت کې د وزیرانو شورا د عاجلی اړتیا په صورت کـــې کولای شی چی په بودجې او مالی چارو پورې له مربوطـــو مسالو پرته د ملی شورا په واك کې د شاملو مسئلـو په باب تقنینی فرمانونه و ضـع کړی ، تقنینی فـرمانونـــه د جمهـور رئیس لـه توشیـح وروسته نافذ ګڼل کیږی .

دوزیرانو شورا هغه تقنینی فرمانونه چی داساسی قا نون

**موا فقتنا مه ها با دول د یگر ومو سسا ت بین ا لمللـــی طبق قا نو ن .**

**٥ ـ ایجاد ادارات وار گا نهای وابسته به شورای وز-** یران به تأیید رئیس جمهور.

**٦ ـ تصو یب مقرره‌واسا سنامه در حدود صلا حیـــت** طبق قا نو ن .

٧ـ ارائه مقرره‌ها،اساسنامه ها ومصوبات شورای وزیرا ن به رئیس جمهور .

٨ـ اعمال سایر صلا حیتها طبق قانون .

**ماده یك صدو چهارم :**

در هنگام‌تعطیل شورای‌ملی ویا انحلال ولسی‌جر گه‌شورای وزیران در صورت ضرور ت عاجل میتواند در موردمسایل شامل صلاحیت شورای ملی به استثنای مسایل مربو ط بودجه وامور مالی، فرامیـن تقنینی وضع نماید .

فـرا میـن تقنینـــــــی بعـد از تو شیـح ر ئیـس جمهور نافذ شمرده می‌شود.

شورای وزیران فرامیـــن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

د دغې مادې د حکم سره سم وضع شوي دي د ملي شورا لومړني اجلاس ته د منظورې په غرض وړاندې کوي. که چيرې تقنيني فرمانونه د ملي شورا له خوا رد شي، د ملي شورا د تصميم له نيټې څخه له اعتباره لويږي .

جمهور رئيس کولای شي چې دملي شورا ددوو اجلاسو تر مينځ موده اويا دولسي جرگې د ړنگيدو په جريان کې د صدراعظم د پيشنهاد له مخې د حکومت ځيني غړي گوښه او يانوي غړي وټاکي .

دغه موضوع د ولسي جرگې لومړني اجلاس ته د تصميم نيولو په مقصد وړاندې کيږي .

**يوسلو پنځمه ماده :**

حکومت په دغه حالا توکې ړنگيږي :

۱ـ دصدراعظم استعفا،

۲ـدصدراعظم صعب العلاجه يا اوږده ناروغي يامړينه،

۳ـ له حکومت څخه دولسي جرگې دباوربيرته اخيستل ،

٤ـ دتقنينيه دورې پای ته رسيدل .

تقنيني را که مطابق حکم اين ماده قانون اساسي وضع گرديده در او لين اجلاس شوراي ملي جهت منظوري ارائه مينمايد. فرامين تقنيني در صورتيکه از طرف شوراي ملي رد شود از تاريخ تصميم شوراي ملي از اعتبار ساقط ميگردد .

رئيس جمهور ميتوا ند در خلال دو اجلاس شوراي ملي يادر جريان انحلال ولسي جرگه براساس پيشنهاد صدراعظم بعضي از اعضا ي حکو مت راسبکدوش ويا اعضاي جديد را تعيين نمايد اين موضوع دراولين اجلاس ولسي جر گه جهت اتخا ذ تصميم ارا ئه مي گردد

**مادۀ يك صدو پنجم :**

**حکو مت در حا لات آ تي منحل ميگردد :**

**۱ ـ استعفا ی صدراعظم.**

**۲ ـ بيماری صعب العلاج ودوامدار ويا فوت صدراعظم.**

**۳ ـ سلب اعتماد و لسي جر گه از حکو مت .**

**٤ ـ ختم دوره تقنينيه .**

٥_ دولسی جرگی یا ملـی
شورا ړنگیدل ،

په دغوڅولو حالا تو کـــی
هغه حکومت چی ړنگ شوی
دی دنوی حکومت تر جوړیدو
پوری داساسی قانون دسلمی
مادی د مندرجو اشخاصـــــو
لـــه جملی څخه دیوه تن تـــر
سر پرستی لاندی‌چی دجمهور
رئیس له‌خوا تو ظیفیږی، خپلی
دندی ته دوام ورکوی .

**یوسلو شپږمه ماده :**

دوزیرانو دشورا تشکیل ،
ترکیب او دفعالیت څرنگوالی
دقانون په‌واسطه تنظیمیږی .

**اتم فصل**

**قضا**

**یو سلو اوومه ماده :**

قضا (قضا ئیه قوه ) ددولت
یو خپلواک رکن دی .

**یو سلو اتمه ماده :**

قضاوت دافغا نستان پــــه
جمهوریت کی یوازی دمحکمی
له خوا دقانون سره‌سم کیږی.
قضائیه قوه‌له ستری‌محکمی
او نورو هغو محکمو څخه چی
دقانون‌له مخی جوړیږی، مرکبه
ده .

**یو سلو نهمه ماده :**

ستره محکمه داترټولو لوړ

**٥ _ انحلال و لسی جرگه
یا شورای ملی .**

در تمام این حا لا ت حکـو-
متی که منحل گردیده ، الـی
تشکیل حکو مت جدید تحت
سر پر ستی یکی از اشخاص
مندرج ماده(صدم) قا نـــو ن
اسا سی که از طرف ر ئیس
جمهور تو ظیف میگردد ، به
وظیفه خود دوام میدهد .

**ماده یك صدو ششم :**

تشکیل، ترکیب و طـــرز
فعالیت‌شورای وزیرا ن تو سط
قانون تنظیم می گردد .

**فصل هشتم**

**قضا**

**ماده یك صدو هفتم :**

قضا (قوه قضائیه) یـــك
رکن مستقل دولت می‌باشد.

**ماده یك صدو هشتم :**

قضاوت در جمهوری افغـا
نستان صرف تو سط محکمه
طبق قانون ، صورت میگیرد.
قوه قضائیه مرکب استاز
ستره محکمه و محا کـــم
دیگری که طبق قانون تشکیل
میگردند .

**ماده یك صدو نهم:**

ستره محکمه بحیث عـــا-



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

قضایی ارگـــان په توگـــه د هیواد د قضایی واحد سیستم په سرکی ده اودقاضی‌القضات، د قاضی القضات له مرستیالانو او غړیو څخه مرکبه ده .

ستره محکمه د قـانـــون دحکمونو سره سم د محکمو فعالیتونه څـــاری او دمحکمو په فعالیتونو کی د قانـــون یوشان تطبیق تامینوی.

**یوسلو لسمه ماده :**

قاضی القضات ، دستـــری محکمی مرستیالان ا و غــړ ی دقانون سره‌سم‌د جمهوررئیس له خوا ټاکل کیږی .

قاضی‌القضات جمهوررئیس ته مسوول او په راپور ورکولو مکلف دی .

**یوسلو یوولسمه ماده :**

محکمی په‌خپل‌قضاوت کـــی خپلواکی او یوازی د قـــانون تابع دی.

دمحکمو له‌خواغور اودحکم صادرول دقانون او محکمی په وړاندی ددواړوخواوو دبرابری داصل پراساس کیږی.

**یوسلو دولسمه ماده :**

قاضیان د قضیو د څیړنی

لیترین ارگان قضایی درراس سیستم واحد قضا یی کشور قرار داشته مرکب است از قاضی القضات ، معاونان قاــ ضی القضات واعضا .

ستره محکمه بر طبـــق احکام قا نون فعالیتهــــــای محاکم را نظارت نموده ، تطبیق یکسان قا نو ن رادر فعا لیتهای محاکم تامین می کند.

**ماده یك صدو دهم :**

**قا ضی ا لقضا ت ، معاو نان واعضای ستره محکمه‌طبق قانو ن توسط ر ئیس جمهور** تعیین میگردند.

**قا ضی ا لقضات نزد رئیس جمهور مسوول‌ومکلف به‌ارائه گزارش میبا شد .**

**ماده یك صدو یازده‌هم:**

محاکم در قضاوت خود مستقل بوده صرف تابـــع قانون می باشند .

رسیده‌گی و صدور حکـم توسط محاکم بر اساســـ اصل تساوی طرفین دربرابر قانون و محکمه صورت مـــی گیرد .

**ماده یك صدو دوازدهم:**

قضات حین بر رسی قضایا،

# رسمی جریده

په وخت کی د افغانستان د جمهوریت اساسی قانون او قوانین تطبیقوی .

په هغو حالاتو کی چی قانون صراحت ونه لری محکمه قضیی د اسلام دشریعت د حکمونو له مخی په داسی توګه حل او فصل کوی چی عدالت په ډیره ښه ممکنه وجه تامین کړی .

**یوسلو دیار لسمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت په محکمو کی محاکمه په علنی توګه کیږی. هغه حالات چی پر قضیو باندی په سری غونډو کی غور کیږی د قانون په واسطه ټاکل کیږی .

دمحکمی د حکم ابلاغ په ټولو حالاتو کی علنی دی .

**یوسلو څوار لسمه ماده:**

په محکمو کی د قضیو غور او حل او فصل په پښتو او دری ژبواویادسیمی د اوسیدونکو د اکثریت په ژبه کیږی .

که چیری د دعوی لوری په هغه ژبه باندی چی محاکمه پری کیږی ونه پوهیږی ، د ترجمان په مرسته د قضیی د موادو او اسنادو سره دآشنایی

احکام قانون اساسی و قوانین جمهوری افغانستان را تطبیق مینمایند .

در حالاتیکه قانون صراحت نداشته باشد ، محکمه قضایا را طبق احکام شریعت اسلام به نحوی حل و فصل مینماید که عدالت را به بهترین وجه ممکن تامین نماید .

**ماده یک صدو سیزدهم :**

در محاکم جمهوری افغانستان محاکمه بصورت علنی اجرا میشود . حالاتیکه قضایا در جلسات سری رسیده گی می شود، توسط قانون تعیین می گردد .

ابلاغ حکم محکمه در همه حالات علنی است .

**ماده یک صدو چهاردهم:**

رسیده گی و حل وفصل قضایا یادر محاکم به لسان های پشتو ودری و یا به لسان اکثریت ساکنین محل صورت میگیرد .

اگر طرف دعوی لسانی را که محاکمه توسط آن صورت میگیرد نداند، حق آشنائی با مواد واسناد قضیه توسط

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق او په مورنۍ ژبه باندې په محکمه کې د خبرو حق ورته تضمینیږي .

**یو سلو پنځلسمه ماده :**

د محکمو پریکړې بایدمدللې وي او د حکم سببونه په کې ذکر شي .

دمحکموقطعي پریکړې واجب التعمیل دي ، د اعدام له حکمه پرته چې د جمهور رئیس له منظورۍ وروسته عملي کیږي .

**یوسلو شپاړسمه ماده :**

دمحکمو تشکیل ، ترکیب دقانون په واسطه تنظیمیږي .

واك او د فعالیت ځرنګوالی

## نهم فصل

## خارنوالي

**یوسلو اووه لسمه ماده :**

دافغانستان جمهوریت خارنوالي د مرکزیت د اصل پر بنسټ واحد سیستم دی او له لویې خارنوالۍاو نوروهغو خارنوالیو څخه چې د قانون له مخې جوړیږي ، متشکل دی .

**یوسلو اتلسمه ماده :**

لوی خارنوال د هیواد

ترجمان وحق صحبت در محکمه به زبان مادری برایش تضمین می گردد ..

**ماده یك صدو پانزدهم :**

فیصله های محاکم باید مدلل باشد واسباب حکم درآن ذکر گردد .

فیصله های قطعی محاکم واجب التعمیل است به استثنای حکم به اعدام که بعد از منظوری رئیس جمهور تعمیل می گردد .

**ماده یك صدو شانزدهم :**

تشکیل ، ترکیب ، صلاحیت وطرز فعالیت محاکم توسط قانون تنظیم می شود

## فصل نهم

## خارنوالی

**ماده یك صدو هفدهم :**

خارنوالی جمهوری افغانستان سیستم واحد مبتنی بر اصل مرکزیت بوده ، متشکل است از لویه خارنوالی و خارنوالیهای دیگری که طبق قانون تشکیل میگردند

**ماده یك صدو هژدهم :**

لوی خارنوال رهبری فعا ـ

خارنوالی د ارگانونو د فعالیت لاربنبوونه کوی .

دخارنوالی ارگـــانونه پــه خپلو اجراآتو کی خپلواك دی، یوازی د قانون او لوی‌خارنوال تابع دی.

**یوسلو نو لسمه ماده :**

لوی خا رنوال او د لوی خارنوال مرستیالا ن دقـا نون سره سم دجمهور رئیس‌له‌خوا ټاکل کیږی .

لوی خارنوال جمهور رئیس ته مسوول او دراپور په‌ورکولو مکلف دی .

**یوسلو شلمه ماده :**

دټولو وزارتونو ، ادارو، د دولتی ، مختلطو او خصو صی موسسو ، کوپرا تیفو نـــو سیاسی گوندو نو او ټولنیزو ساز مانونو،دچارودمسوو لینو او اتباعو له خوا د قوانینو په پوشان تطبیق او رعایت‌باندی لوړه خارنه دلوی خارنوال او دهغــه ترلاس‌لاندی خارنوالانو په غاړه ده .

**یوسلو یوویشتمه ماده :**

د خارنوالـــی تشکیـــل ، ترکیب، واك او د فعالیـــت څرنگوالی د قانون په واسطــه تنظیمیږی .

لیت ارگانهای خارنوالی‌کشور رابه عهده دارد .

ارگانهای خارنوالی دراجراآت خویش مستقل بـــوده صرف تابع قانون ولوی خار-نوال میباشند .

**ماده یك‌صدو نزدهم :**

لو ی خا رنوا ل و معاو نان لوی خارنوال طبق قـا نون، تو سط رئیس جمهور تعیین‌می گرد ند .

لو ی خا رنوا ل نزد رئیس جمهور مسو ل و مکلف بــه ارا ئه گزا رش می با شد .

**ماده یك‌صدو بیستم :**

نظا رت عا لی بر تطبیـــق ورعا یت یکسا ن قوا نیـــن از طر ف تما م وزارت ها ، ادارات ، مو سسات دولتی، مختلط ،خصوصی،کوپراتیفها، احزا ب سیا سی وسا زما ن های اجتماعی ، مسوو لیـــن امور واتباع، بر عهده لـــوی خار نوا ل و خا رنوا لا ن‌تحت اثر او می با شد.

**ماده یك‌صدو بیستو یکم :**

تشکیل ، تر کیب، صلاحیت وطرز فعالیت خارنوالی توسط قانون تنظیم می گردد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### لسم فصل
### داساسی قانون شورا

**یوسلو دوه ویشتمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت داساسی قانون شورا د اساسی قانون سره دقوانینو، نوروتقنینی اسنادو او بین المللی تړونونو د سمون لرلو د څارنی په مقصد جوړیږی.

**یوسلو درویشتمه ماده :**

داساسی قانون شورا دغه وا کونه لری :

۱ــ له اساسی قانون سره دقوانینو ، تقنینی فرمانونو او بین‌المللی تړونونو دسمون لرلو څیړل ،

۲ــ جمهور رئیس ته له اساسی قانون څخه دراولاړو شویو مسئلو په‌باب دحقوقی مشورو ورکول .

**یوسلو څلرویشتمه ماده :**

د اساسی قانون شورا د خپلو واکونو د تعمیل په مقصد حق لری :

۱ــ هغه تقنینی اسناد چی دتوشیح په غرض جمهور رئیس ته وړاندی کیږی ، مطالعه اود اساسی‌قانون‌سره

### فصل دهم
### شورای قانون اساسی

**ماده یکصدو بیست‌ودوم:**

شورای قانون اساسی جمهوری افغانستان بمنظور مراقبت از مطابقت قوانین، سایر اسناد تقنینی ومعاهدات بین‌المللی با قانون اساسی ایجاد می گردد .

**ماده یکصدو بیست‌و سوم:**

شورای قانون اساسی دارای صلاحیت‌های ذیل می باشد :

۱ــ بررسی مطابقت قوانین فرامین تقنینی و معاهدات بین المللی با قانون اساسی

۲ــ ارائه‌مشوره های‌حقوقی در باره مسایل ناشی از قانون اساسی به رئیس جمهور

**ماده یکصدوبیست‌وچهارم:**

شورای قانون اساسی به منظور تعمیل صلاحیت های خود حق دارد :

۱ــاسناد تقنینی ایکه جهت توشیح به رئیس جمهور ارائه میگردد مطالعه وراجع به

د هغو دسمون لرلو په با ب
نظر څرگند کړی.

۲ـ جمهور رئیس تهدقانون
جوړولو د چارو د پرمختیا په
مقصد د تدبیرونو د نیولو
په برخه کی چی
اساسی قانون حکم کوی
مشخص پیشنهادونه وړاندی
کړی .

**یوسلو پنځه ویشتمهماده:**
داساسی قانون شورا له
رئیس ، مرستیال ، منشی او
اتو غړیو څخه جوړه ده چی
دجمهور رئیس له خوا ټاکل
کیږی .

**یوسلو شپږویشتمه ماده :**
داساسی قانون شوراجمهور
رئیس ته مسووله او دراپور
په ورکولو مکلفه ده.

**یوسلو اووه ویشتمه ماده :**
د اساسی قانون د شورا
تشکیل او دفعالیت څرنگوالی
دقانون په واسطه تنظیمیږی .

## یوولسم فصل

## اداره

**یوسلو اته ویشتمه ماده:**
دافغا نستان جمهو ریت
اداره دمرکزی ا و سیمه ییزی

مطابقت آنها باقا نون اسا
سی ابراز نظر نماید .

۲ـ پیشنهادات مشخص
رادر زمینه اجرای تدابیر به
منظور **انکشاف امور قا**
نو نگذاری که قانون اساسی
حکم می کند به رئیس جمهور
ارائه نماید.

**ماده یکصدو بیستوپنجم:**
شو را ی قا نو ن اسا سی
متشکل از رئیس ، معا و ن،
منشی و هشت عضو می با شد
که توسط رئیس‌جمهور تعیین
می شو ند.

**ماده یکصدو بیستوششم:**
شورای قانون اساسی در
مقابل رئیس جمهور مسوول
ومکلف بهارائه گزارش‌میباشد

**ماده‌یکصدو بیستوهفتم:**
**تشکیل وطرز فعا لیت‌شورای**
قا نون اساسی‌توسط قانون
تنظیم میگردد.

## فصل یازدهم

## اداره

**ماده‌یکصدو بیستوهشتم:**
اداره جمهو ری افغا نستان
بر اساس وا حد های اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

اداری دواحدونو په اساس دقانون له‌مخې تنظیمیږي.

دافغانستان جمهوریت دسیمه ییزی اداری له پلوه دولایتونو ، ولسوالیو، ښارونو او ناحیو داداری له واحدونو څخه متشکل دی .

دنو موړو واحدونو په سر کی په ترتیب سره والیان ، ولسوالان ، ښاروالان او د ناحیو آمران واقع دی .

په هر ولایت او ولسوالی کی دقانون له مخې دولایت شورا او د ولسوالی شورا جوړیږي .

دولایت شورا او دولسوالی شورا دخپلو غړیو له مینځه یو یوتن درئیس او منشي په‌توګه انتخابوی .

دولایت دشورا او دولسوالی دشورا دواك دوره دری کاله ده.

**یوسلو نهه‌ویشتمه ماده :**

دولایت شورا اودولسوالی شورا دقانون سره سم په سیمه‌کی ددو لت دپر مختیایی هدفونو په تامین‌کی ونډه‌اخلی او اداری ته دمربوطو چارو د

مرکزی ومحلی طبق قانون تنظیم می گردد .

جمهوری افغانستان از لحاظ اداره محلی متشکل از واحد های اداره ولایات ،ولسوالیها ، شهرها ونواحی می باشد.

**در راس واحد** های متذکره بالترتیب والیها، ولسوالها ، شاروالها وآمرین نواحی قرار دارند.

**در هر ولایت وولسوالی شورای ولایت و شورای ولسوالی طبق قانون تشکیل میشود .**

شورای ولایت و شورای ولسوالی یك یك نفر را از بین اعضای خود به حیث رئیس ومنشی انتخاب می کنند.

دوره صلاحیت شورای ولایت و شورای ولسوالی سه سال است .

**ماده یك صدو بیست‌ونهم:**

شورای ولایت وشورای ولسوالی طبق قانون در تامین اهداف انکشافی دولت در محل سهم گرفته ، به

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه والي او پر مختيا په با ب
سلا وركوى ۰
دولايت دشورا اودو لسوالى
دشورا غړيو ته مناسب حـــق
الحضور وركول كيږى ۰

**يوسلو ديرشمه ماده:**

د ښارونو اوناحيو د چارو
داداري په‌مقصد د ښاروالیواو
ناحيو مجلسونه دقانون سره
سم جوړ يږى ۰
دښاروالیو او ناحيودمجلسونو
غړيوته مناسب حق الحضو ر
وركول كيږى ۰
دكابل ښار او د هغه‌ناحيى
لويى جرگى او ملى شوراتـــه
داستازو دانتخاب په ارتباطبه
ترتيب‌سره‌دولايت اوولسواليو
معادل دى ۰

**يوسلو يو ديرشمه ماده :**

په مركزى او سيمه ييزى
ادارى پورى مربو طى چارى ،
دكار كوونكو ددندو ثبـــات او
مصوونيت او ور پورې نورى
مربوطى مسألى دقانون‌له‌مخى
تنظيميږى ۰

**دولسم فصل**

**بهرنى سياست**

**يوسلودوه ديرشمه ماده :**

د افغانستان د جمهوريـــت
بهرنى سياست د ملي گتـــو

اداره در باره بهبود وانكشاف
امور مر بو ط مشوره ميد هد.
برا ى اعضا ى شو را ى
ولايت وشوراى‌ولسوالى حق‌ـ
الحضور مناسب‌پر دا ختـــه
ميشود ۰

**ماده يك صدو سى‌ام:**

به منظوراداره امور شهرها
ونواحى ، مجالس شاروالیهـا
ونواحى طبق قانون تشكيـــل
ميگر دد.
براى اعضاى مجالس شار-
وا ليها ونوا حى حق الحضور
مناسب پ ردا خته ميشود ۰
شهر كابل ونواحى آ ن
به ارتباط انتخاب نماينده‌گان
براى لويه جرگه و شو راى
ملى ، بالتر تيب معا دل ولايت
وو لسوا ليها مى باشد ۰

**ماده يك صدوسى‌ويكم:**

امور مربوط به اداره‌مركزى
ومحلى و مصو نيت و ثبـات
وظيفوى و سايرمسايل مربوط
به‌كار كنان طبق قانون تنظيم
ميگر دد.

**فصل دوازدهم**

**سياست خارجى**

**ماده يك صدو سى ودوم:**

سياست خارجى جمهورى
افغانستان بر مبناى تاميـــن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

د تامین ، د خپلواکی ، ملی حاکمیت او ځمکنی بشپړتیا د ټینګښت ، د نړیوالی سو لی او امنیت او دسوله ییز ګډ ژوند د ساتلو ، د حقوقو د برابری او دبین المللی همکاری دهر اړخیزی پرمختیا پربنسټ ولاړ دی.

**یوسلودری دیرشمه ماده :**

د افغانستان جمهوریت د ملګرو ملتونو د ساز ما ن دمنشور، د بشر د حقوقو د نړیوالی اعلامیی او دبین ـ الملل حقوقو د نورومنل شویو اصولو او موازینو درناوی او رعایت کوی.

**یوسلوڅلور دیرشمه ماده :**

د افغانستان جمهوریت دناپییلتوب سیاست د دولت د بهرنی سیاست د مهم اصل په تو ګه تعقیبوی او د ناپییلتوب د غورځنګ د یوه بنسټ ایښودونکی په تو ګه د هغه هدفونو ته د رسیدلو په لاره کی هلی ځلی کوی .

**یوسلوپنځه دیرشمه ماده :**

د افغا نستان جمهوریت دټولو هیوادونو ، په تیره بیا دګاونډیو او اسلامی هیوادونو سره د هغودسیاسی، ټولنیز او اقتصادی نظا م

منافع ملی، تحکیم استقلال و حاکمیت ملی، تما میت ارضی کشور ، حفظ صلح وامنیت جهانی ،همزیستی مسا لمت آمیز ، تساوی حقوق وانکشاف همه جانبه همکاری بین‌المللی استوار است .

**ماده یك صدو سی‌وسوم:**

جمهوری‌افغا نستان منشور سازمان ملل متحد ، اعلا میه جهانی حقوق بشر وسایر اصول وموازین قبول شد ه حقوق بین الملل را احترام و رعایت می کند .

**ماده یك‌صدو سی‌وچهارم:**

جمهوری افغا نستان سیاست عدم انسلاك را به حیث اصل‌مهم سیاست‌خارجی دولت تعقیب کرده وبه مثابه یکی از بنیان گذاران جنبش عدم انسلاك در جهت نیل به اهداف آن تلا ش می کند.

**ماده یك صدو سی‌و پنجم:**

جمهوری افغا نستان خوا ـ هان برقراری وتحکیم مناسبا ـ ت دوستانه باهمه کشور ها بخصو ص کشور های‌همجوار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

په پام کې لې له نیولو پرته ، دحقوقو د برابرۍ ، خپلواکۍ، ملي حاکمیت او ز مکنۍ بشپړتیا ته د متقابل درناوۍ، دیو بل په کورنیو چارو کې دلاس نه و هلو، زور ، ګواښ او یا قوی ته د لاس نه اچولو ، د لاس وهنې او تیری د ټولو ډولونودغندلو او دبین المللی حقوقو د منل شویو اصولو او موازینو سره سم دبین المللی ژمنودربښتیانی ترسره کولو داصولو پربنسټ د دوستانه اړیکو درامینځ ته کولو او ټینګښت غوښتونکی دی .

**یوسلو شپږ دیرشمه ماده:**

دافغانستا ن جمهوریت دسولې ، ملي خپلوا کی . دموکراسۍ ، ټولنیزې تر قی او دبر خلیك په ټاکلو کې د ملتونو د حق په خاطر د خلکو او ملتونو د مبارزې ملاتړکوي، داستعمار ، نوی استعمار ، صهیونیزم ، راسیزم، اپارتاید او فاشیزم پر ضد مبارزه کوی .

**یوسلواووه دیرشمه ماده :**

د افغانستان جمهوریت د پوره بې وسلې کولو ، په

واسلامی بدون نظر داشت نظام سیاسی ، اجتماعی و اقتصادی آنها ، مبتنی بر اصول تساوی حقوق ، احترام متقابل به استقلال، حاکمیت ملی، تمامیت ارضی، عدم مداخله در امور داخلی یکدیگر ، عدم توسل بزور ، تهدید و یا قوه، تقبیح همه اشکال مداخله و تجاوز ، اجرای صادقانه تعهدات بین‌المللی مطابق اصول وموازین قبول شده حقوق بین الملل می باشد .

**ماده یك صدو سی و ششم:**

جمهوری افغا نستان از مبارزه مردمان وملل به خاطر صلح استقلال‌ملی، دمو کراسی، ترقی اجتماعی وحق ملل در تعیین سر نوشت شان، پشتیبانی نموده بر ضد استعمار ، استعمار نو، صهیونیزم ، را سیزم، اپارتاید وفاشیزم مبارزه میکند.

**ماده یك صدو سی و هفتم:**

جمهوری افغا نستان از مبارزه بخاطر خلع سلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمی جریده

زمکه او فضا کی د وسله ییزو سیالیو د بندولو، دهسته یی، کیمیاوی او دډله ییزی وژنی دوسلی دنورو ډولونو د نه پراختیا اوله منځه وړلو، دبهرنیو پوځی اډو له منځه وړلو، دبین المللی کړکیچونو دلیری کولو او دبین المللی اقتصادی او اطلاعاتی نوی او عادلانه نظم د ټینګولو په خاطر د مبارزی ملاتړ کوی .

**یوسلواته دیرشمه ماده :**

د افغانستان په جمهوریت کی د جګړی تبلیغ منعه دی .

**دیارلسم فصل**

**متفرقه حکمونه**

**یوسلو نهه دیرشمه ماده :**

د افغانستان د جمهوریت اساسی قانون تر ټولو لوړ حقوقی اعتبار لری ، قوانین او نور تقنینی اسناد له هغه سره سم وضعه کیږی.

**یوسلو څلویښتمه ماده :**

دولت اودهغه ټول ارګانونه د افغانستان د جمهوریت داساسی قانون او قوانینو پر اساس فعالیت کوی، حقوقی نظم ، دټولنی ګټی او داتباعو قانونی حقوق او ګټی تامینوی.

عام وتام ،قطع مسابقات تسلیحاتی در زمین وفضا ، عدم گسترش وامحای سلاح هسته یی و کیمیاوی وسایر انواع سلاح کشتار جمعی ، ازبین بردن پایگاه های نظامی خارجی، رفع تشنجات بین المللی واستقرار نظم نوین وعادلانه اقتصادی واطلاعاتی بین المللی پشتیبانی می کند.

**ماده یك صدو سی وهشتم:**

در جمهوری افغانستان تبلیغ جنگ ممنوع است .

**فصل سیزدهم**

**احکام متفرقه**

**ماده یك صدو سی و نهم:**

قانون اساسی جمهوری افغانستان دارای عالی ترین اعتبار حقوقی بوده ، قوانین وسایراسناد تقنینی مطابق به آن وضع میگردد.

**ماده یك صدو چهلم :**

دولت وتمام ارگانهای آن براساس قانون اساسی وقوانین جمهوری افغانستان فعالیت کرده نظم حقوقی، منافع جامعه ،حقوق ومنافع قانونی اتباع را تامین می کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتی، کوپراتیفی، مختلطی او خصوصی موسسی ، سیاسی گوندونه، ټولنیز سازمانونه، دچارو مسوولین اواتباع دافغانستان دجمهوریت د اساسی قانون او قوانینو په رعایت مکلف دی .

**یوسلو یوخلویښتمه ماده :**

داساسی قانون تعدیل په مستقیمه توگه د لویی جرگی په واسطه کیږی.

همدغه شان د اساسی قانون د تعدیل په باب تصمیم د جمهور رئیس په پیشنهاد او یادملی شورا د غړیو دیوه ثلث په پیشنهاد او د دوو ثلثو په تاییدهم نیول کیږی . په دی حالت کی جمهور رئیس لویه جرگه جوړوی . که چیری لویه جرگه د تعدیل پیشنهاد پهځای وبولی، اساسی قانون تعدیلوی او که نه ، داتعدیل پیشنهاد ردوی . داضطرار په حالت کی د اساسی قانون تعدیل جواز نه لری .

**یوسلو دوه خلویښتمه ماده:**

د جمهور رئیس، د جمهور رئیس د مرستیالانو، د ملی شورا د غړیو ، صدر اعظم دصدراعظم د مرستیالانو،

موسسات دولتی ، کوپراتیفی ، مختلط ، خصوصی ، احزاب سیاسی ، سازمان های اجتماعی ، مسوولین امور واتباع مکلف به رعایت قانون اساسی و قوانین جمهوری افغانستان میباشند.

**ماده یك صدوچهل‌ویکم :**

تعدیل قانون اساسی مستقیماً توسط لویه جرگه صورت می گیرد .

همچنان اتخاذ تصمیم در مورد تعدیل قانون اساسی به پیشنهاد رئیس جمهور یا پیشنهاد یك ثلث و تایید دو ثلث اعضای شورای ملی نیز صورت می گیرد .

درین حالت رئیس جمهور لویه جرگه را دایر میکند در صورتیکه لویه جرگه پیشنهاد تعدیل را وارد بداند قانون اساسی را تعدیل ودر غیر آن پیشنهاد تعدیل را رد می کند.

در حالت اضطرار تعدیل قانون اساسی جواز ندارد

**ماده یك صدو چهل‌و دوم:**

برای رئیس جمهور، معاونان رئیس

# رسمی جریده

دحکومت دغړیو ، قاضی –
القضات دستری محکمه دمر–
ستیالانو او غړیو، داساسی
قانون دشورا رئیس مرستیال
اومنشی لوی خارنوال اودلوی
ثارنوال د مرستیالانودپاره
دقانون سره سم معاش ټاکل
کیږی.

**یو سلو دری څلویښتمه ماده:**

که چیری د جګړی ،دجګړی
د خطر ،بحران او یا ورتـه
حالاتو په علت لههغولاروڅخه
چی داساسی قانون په واسطه
ټاکل شویدی ،دخپلواکی،ملی
حاکمیت اوزمکنی بشپړتیااویا
دکورنی امنیت ساتل نا ممکن
شی، جمهوررئیس کولای شی
چیدملی شورا ددواړومجلسو–
نودرئیسانو صدراعظم،قاضی–
القضات او داساسی قانون د
شورا درئیس پهسلا داضطرار
حالت اعلان کړی .

که چیری داضطرار حا لت
له دریو میاشتو څخه زیاتدوام
وکړیدهغه داوږدو لو دپارهد
لویی جرګی موافقه شرطده.

**یوسلو څلورڅلویښتمهماده:**

داضطرار د حالت په موده
کی جمهور رئیس دغه واکونه
لری :

جمهور، اعضای شورای ملی
صدر اعظم ، معاونان صدراعظم
اعضایحکومت، قاضیالقضات
معاونان واعضای ستره محکمه
رئیس، معاون ومنشی شورای
قانون اساسی،لوی خارنوال و
معاونان لوی ثـارنوال طبـق
قانون معاش تعیین میشود .

**ماده یك صدو چهل وسوم:**

هرگاه به علت جنگ ، خطر
جنگ ، بحرانویا حالاتمماثلی
که حفظ استقلال، حا کمیتملی
وتمامیت ارضی ، یا امنیتدا–
خلی از مجاریی کهتو سطقانون
اساسی تعیینشده نا ممکـــن
گردد، رئیس جمهور میتواند،
در مشوره با رو سایمجلسین
شورایملی صدراعظمقاضی–
القضاتورئیس شورای قا نون
اساسی ، حا لت اضطرار را
اعلام کند.

هر گاه حا لت اضطرار از
سه ماهبیشتر دوام نماید.برای
تمدید آن موا فقه لویه جرگـه
شرط است.

**ماده یكصدو چهلوچهارم:**

در مدت حالت اضطـــرار
رئیس جمهور دارای صلاحیت
های ذیل میباشد :



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ دملی شورا د واك د دوری اوږدول .
۲ـ دوزیرانو شوراته د ملی شورادځینو واکونو ورسپارل.
۳ـ اختصاصی محکمو او وسله وال پوځ محکمو ته د محکمود ځینو واکونو ورکول.
٤ـ د اساسی قانون د ( ۳۰ ـ ٤٤ـ ٤٥ـ ٤٦ـ ٤٩ـ ٥٠ مادو، د ٥١ مادی د وروستنی فقری، د ٥٣ او ٦٠ مادو) د اعتبار تعلیق اویاتحدید .
٥ـ دقانون سره سم دنورو واکونو عملی کول .

**یوسلوپنځه‌خلوېښتمه ماده:**

که چیری هغه بین المللی تړونونه یا میثاقونه چی دافغانستان جمهوریت هغه لاسلیك کړی اویاورسره یوځای شوی وی د افغانستان د جمهوریت د قوانینو دحکمونو مغایر وی نوبین المللی تړون او میثاق ته رجحان ورکول کیږی .

**یوسلو شپږ خلوېښتمه ماده:**

په‌جمهوررئیس، دجمهوررئیس په‌مرستیالانو، د ملی شور اد دوارو مجلسو نو د اداری هیئتونو په غړیو ،صد را عظم د صدراعظم په مرستیا لا نو،

۱ـ تمدید دوره صلاحیت شورای ملی
۲ـ تفویض برخی از صلاحیت های شورای ملی‌به شورای وزیران .
**۳ـ اعطای برخی از صلاحیت های محاکم به محاکم اختصاصی ومحاکم قوای مسلح .**
٤ـ تعلیق ویا تحدیداعتبار مواد (۳۰ـ٤٤ـ ٤٥ـ ٤٦ـ ٤٩ ٥٠ـفقره اخیرماده٥١ماده ٥٣و٦٠) قانون اساسی .
٥ـ تعمیل سایر صلاحیت‌ها طبق قانون .

**ماده یك صدو چهل‌وپنجم:**

در صورتیکه معاهدات یا میثاقهای بین المللی که جمهوری افغانستان آنرا عقد یابه آن الحاق نموده مغایر احکام قوانین جمهوری افغانستان باشدبه‌معاهده‌بین‌المللی ومیثاق رجحان داده میشود .

**ماده یك‌صدو چهل‌وششم:**

بررسی اتهامات وارده‌بررئیس جمهور، معاونان رئیس‌جمهور اعضای هیئتهای اداری‌مجلسین

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوزیرانو د شورا په غړیو ، لوی څارنوال ، دلویې څارنوالی په مرستیالانـــواو د اساسی قانو ن د شورا پــــه رئیس باندی د لګول شو یو تورونو څیړل او دهغـــــوی دمحاکمی طرز دځانګـــــړی قانو ن له مخی تنظیمیږی .

**یوسلواووه څلویښتمه ماده:**

دافغانستـــا ن په جمهوریت کی هغه اشخاص چی په خپله **او یــا همسر یې لــه افغــان** مور او پلار څخه زیږ یدلـــی نه‌وی ، د جمـــهـــور رئیس د مرستیال ، صدراعـــظم ، د صدراعظم دمرستیال، وزیر، قاضی القضات ، لوی څارنوا ل، د دلـــو ړ رتبـــه افسر او یـــا دیپلو ماتیک کار مند په‌تو ګه ټاکل کیدلای نه‌شی .

**یوسلواته څلویښتمه ماده :**

ددغه اساســـی قانـــون په انفاذ سره د افغــــا نستان ددموکراتیک جمهوریت اساسی اصول له اعتباره لویږی .

هغه قوانین او نور تقنینی اسناد چی ددغه اساسی‌قانون دانفاذ له نیټـــی څخــه پخــوا صادر شوی دی ، په دی شرط نافذ ګڼل کیږی چی ددغـــــه

شورای ملی، صدر اعظم، معاونان‌صدراعظم ،اعضای‌شورای وزیران ، قا ضی القضـات ، معاونان واعضای‌ستره‌محکمه، لوی څارنوال ، معا ونان لوی‌ه څارنوالی‌ورئیس شورای‌قانون اساسی‌وطرز محاکمه آنان‌طبق قانون خاص تنظیم میگردد .

**ماده یک‌صدو چهل‌و هفتم :**

در جمهوری افغا نستا ن اشخا صی که خود ویا همسرشان از والد ین افغان متولد نگردیده با شند ، به حیـــث معاون رئیس جمهور ، صدراعظم معاون صدر اعظم وزیر و قـــا ضـــی القضـــا ت لوی څارنوال، افسر عالیرتبه ویـــا کـــار منـــد دیپلـــو مـــاتیک تعیین شده نمی توانند.

**ماده یک صدو چهل‌وهشتم:**

باانفاذ این قا نون اساسی اصول اساسی جمهوری‌دموکراتیک افغا نستان ازاعتبار ساقط میگردد .

قوانین وسایر اسنـــــاد تقنینی که قبل از تاریخ‌انفاذ این قانون اساسی صـــادر گردیده بشرط طي نافذ شمرده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اساسي قانون جرنيله

اساسي قـانون دحكمونو سره متنا قض نه‌وي .

**يو سلو نهه څلويښتمه ماده:**

دغه اسا سي قانون دلويي جرگي دتصويب له نيټې څخه نافذ اود جمهور رئيس له‌خوا تو شيح او اعلا ميږي .

په دغه‌اساسي قانون کـي تعديل دلويي جر گي دتصويب له نيټې څخه نا فذ اود جمهور رئيس له‌خوا تو شيـــح‌او اعلا ميږي .

ميشود که متنا قض با احکام اين قانو ن اساسي نبا شند .

**ماده‌يك صدوچهل‌و نهم :**

اين قانون اساسي از تاريخ تصويب لوی ه‌جرگه نافذوتوسط رئيس جمهور توشيح و اعلام ميگردد .

تعديل درين قانون اسا سي از تاريخ تصو يب لو يه جرگه نافذ وتوسط رئيس جمهـــور توشيح واعلام ميگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اشتراک سالانه

داخل کشور ۲۰۰ افغانی

خارج کشور ۵۰ دالر امریکایی

محصلین با ارائه تصدیق ۱۵۰ افغانی

بهای یک شماره (۵۰) افغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# REPUBLIC OF AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE
# OFFICAL
# GAZETTE

**Editor: Shahjahan Bigzad**
Assitant Editor: Nuralam
Issue: No. 728
Date: November 6. 1990

دولتی مطبعه

دچاپ شمیر (۳۰۰) ټوکه

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library